# میرمن مجله

افغانو مېرمنو ته ځانګړې شوې مجله

لومړی کال؛ دریېیمه ګڼه

منی؛ ۱۴۰۳ل




**د مجلې په دغه ګڼه کې د نورو مقالو تر څنګ دا هم لوستلی شئ؛**

## په افغانستان کې د ښځو د رهبرۍ د نشتون دلایل


آریانا پارسي


په پخوانیو او بدوي ټولنو کې، چې سیستماتیک علوم موجود نه وو، ارزښتونه او د مشرۍ معیارونه بېلابېل وو او وسایلو یې هم ډېر ډولونه درلودل. د مشر د ټاکلو معیارونه یې غښتلی جسامت، لوړ آواز او فیزیکي ځواک وو.
مشرانو به د فتوحاتو او لښکرکشیو لپاره دغو ځانګړتیاوو ته اړتیا لرله. ښځې د نرم آواز، نازک بدن او د حمل درلودو له امله له دغو امتیازونو بې برخې پاتې شوې.
دا موضوع په تدریج سره په یوه بې سرحده کلیشه بدله شوه. انسان لا هم د دغو زړو معیارونو تر آغېز لاندې دی.




د «مېرمن» مجلې ټول حقونه له «مېرمن میډیا» سره خوندي دي.

# پېژندنه


نوم: مېرمن

د امتیاز خاوند: مېرمن میډیا

چیف ایډیټر: سهراب سپر

کتنپلاوی: د مېرمن میډیا غړي

ګرافیک ډیزاین: علي یزدان‌پناهي

د خپرېدلو نېټه: منی ۱۴۰۳ل.ل

ګڼه: درېیمه(۳)

د مجلې لیکوالان: آریانا پارسي
صابر همدم
عادله غزنوي
خاطر بریال

د وېب‌پاڼې پته: www.merman.media


په لاندې ایمېل له موږ سره اړیکه ونیسئ

contact@merman.media

په ټولنیزو رسنیو کې مو هم څارلی شئ؛

Merman Media

Merman

Media

# لړلیک


**د درېیمې ګڼې سریزه**

د مېرمن مجلې اداره

۲

**د افغانستان اسلامي جمهوریت او اسلامي امارت په حکومتونو کې د ښځو د سیاسي او ټولنیزو حقونو پرتله**

خاطر بریال

۳

**د اسلام سپېڅلي دین او لیبرالېزم له نظره د ښځو د کار حق**

عادله غزنوي

۱۱

**په افغانستان کې د ښځو د رهبرۍ د نشتون دلایل**

آریانا پارسي

۲۱

**په افغانستان کې د کوچنیو پورونو له لارې د ښځو ځواکمنول**

صابر همدم

۲۶

# د درېيمې ګڼې سريزه

د مېرمن مجلې اداره

## د افغان مېرمنو پياوړتيا؛ د روښانه راتلونکي په لور يون

په نننۍ نړۍ کې د ښځو پياوړتيا نه يوازې يوه ټولنيزه اړتيا ده، بلکې يو انساني حق هم دی، چې بايد په رسميت وپېژندل شي او درناوی ورته وشي. مېرمنې د ټولنې د بنسټ يوه مهمه برخه ده او د هغوی حقونه او ونډه د ټولنې د هوساينې لپاره اړين دي. په افغانستان کې مېرمنې له بېلابېلو ستونزو سره لاس او ګرېوان دي، په ځانګړې توګه د طالبانو تر واکمنۍ لاندې، چې هغوی يې له زده‌کړو او نورو بنسټيي حقونو څخه محرومې کړې دي.

د مېرمنو پياوړتيا د هغوی د ودې او پرمختګ لپاره د اړينو فرصتونو او امکاناتو د برابرولو په معنیٰ ده. هغوی ته بايد د زده‌کړو، روغتيا او کاري فرصتونو امکانات برابر شي او په ټولنيزو او سياسي پريکړو کې د ګډون حق ورکړل شي. د مېرمنو پياوړتيا نه يوازې د دوی ژوند ښه کوي، بلکې ټولنه يې هم د مثبتو بدلونونو له ګټې برخمنه کېږي.

په داسې حال کې چې د افغان مېرمنو پر وړاندې ستونزې مخ پر زياتېدو دي، د هغوی ستونزو ته انعکاس ورکول او حل‌لارې وړاندې ډېر مهم دي. مېرمن مجله په همدې موخه رامنځته شوې ده، چې د افغان مېرمنو غږ پورته کړي، د هغوی حقونه بيان کړي او د پياوړې کولو لپاره يې لارې چارې ومومي. مېرمن مجله هغه لارې چارې او پروګرامونه څېړي، چې د افغان مېرمنو په پياوړتيا کې آغېزناک او ګټور ثابتېدلی شي. زده‌کړې، اقتصادي، ټولنيز او قانوني ملاتړ د هغو عناصرو له جملې څخه دي، چې د ښځو لپاره د يوه مرستندويه چاپېريال په رامنځته کولو کې مهم رول لوبوي.

په داسې حال کې چې طالبانو تر يوه ميليون زياتې افغانې نجونې له زده‌کړو بې برخې کړې دي، د دغې مجلې اړتيا او ارزښت د پوهاوي او ملاتړ رامنځته کولو په برخه کې تر بل هر وخت ډېر احساسېږي.

په پای کې له ټولو درنو لوستونکو څخه هيله کوو، چې په دې سفر کې له موږ سره ملګري شي. موږ د يوه بل په همکارۍ او ملاتړ سره کولی شو، د افغان مېرمنو د يوه روښانه راتلونکي لپاره هڅه وکړو. راځئ چې د دې ستړې موخې د ترلاسه کولو لپاره ګډې هڅې وکړو. د ښځو پياوړتيا، زموږ د ټولنې د ودې او پرمختګ کيلي ده.



# د افغانستان اسلامي جمهوریت او اسلامي امارت په حکومتونو کې د ښځو د سیاسي او ټولنیزو حقونو پرتله

خاطر بریال

**مقدمه**

مېرمنې د ټولنې د نیمایي وجود او د کاري ځواک د یوې لویې برخې د تامین کوونکو په توګه په ټولنه کې مهم رول لري. د نارینه‌وو او ښځو ترمنځ هر ډول تبعیض او د دغه قشر په حقونو تېری یو نه بښونکی ظلم دی. له همدې امله په نړۍ‌واله کچه د ښځو د ساتنې او ملاتړ په موخه قوانین جوړ شوي دي او اسلام هم د ظهور له ورځې د ښځو د سیاسي او ټولنیزو حقونو په شمول د هغوی ټول حقونه په رسمیت پېژندلي دي. په دې مقاله کې به د افغانستان اسلامي جمهوریت او اسلامي امارت حکومتونو کې د ښځو سیاسي او ټولنیز حقونه په پرتله‌ییز ډول وڅېړو. د یوې اصولي مقایسې ترسره کولو په موخه به یو لړ مهم نړۍ‌وال قوانین او اسلامي اصول او ارشادات د معیار او بنسټ په توګه راواخلو او د ښځو د حقونو په برخه کې به د افغانستان اسلامي جمهوریت او اسلامي امارت اقدامات ورسره پرتله کړو. د مقالې اهمیت دا دی، چې د ښځو د حقونو په برخه کې به د یادو دوو حکومتونو د ضعف او قوت ټکي روښانه شي او د موجوده تشو او نیمګړتیاوو د ډکولو لپاره به آغېزناکو

اقداماتو ته زمينه برابره شي. شواهد دا څرګندوي، چې په اسلامي امارت کې ښځې له خپلو ځينو حقونو، لکه سياسي او ټولنيزو حقونو بې برخې دي، چې دا ټول پرتله‌ييز مطالعات د شته ستونزو د حل په برخه کې ګټورې تمامېدلی شي.

## مفهومي چوکاټ

په دې برخه کې د ښځو سياسي او ټولنيز حقونه د اسلام مبارک دين او نړۍوالو قوانينو له ليدلوري څېړو، چې د اصلي موضوع روښانتيا لپاره مفهومي چوکاټ چمتو کړو.

اسلام تر معتدلو شرايطو لاندې په سياسي فعاليتونو او حرکتونو کې د ښځو ګډون مني. هغه خدای، چې ښځې ته يې له نارينه سره برابرې ټولې طبيعي وړتياوې ورکړې دي، ښځې ته دا حق هم ورکوي، چې د شرعي احکامو په پام کې نيولو سره په ټولنيزو او سياسي فعاليتونو کې ګډون وکړي. (قيوم زاده، ۱۳۸۷: ۸۷-۸٦)

اسلام د ښځو په سياسي او ټولنيزه پوهه او وده ډېر ټينګار کوي، چې دا قشر خپل سياسي او ټولنيز مسووليتونه په برياليتوب سره ترسره کړي. ځينې وخت ټولنيز او کلتوري شرايط د يادو مسووليتونو په ترسره کېدو کې مرستندويه وي؛ خو په ځينو برخو کې ياد شرايط د مېرمنو د ټولنيزو او سياسي مسووليتونو پر وړاندې خنډ کېږي. (عنايت او نور، ۱۳۹٦: ۴۲)

په قرآن کريم کې ځينې آياتونه د ښځو د سياسي او ټولنيزو حقوقو په اړه راغلي دي. د امر بالمعروف او نهي عن المنکر آياتونه د ښځې او نارينه د ټولنيز ګډون څرګند مثالونه دي. خدای پاک په توبه سورت کې فرمايي: "مؤمنې ښځې او مؤمنان نارينه د يوه بل وليان (ملاتړي) دي، په ښو امر کوي او له بدو څخه منعه کوي، لمونځ کوي او زکات ورکوي او د خدای او د هغه د رسول اطاعت کوي" (آيه ۷۱). په اسلام کې ښځو ته تر ټولو بارز سياسي حق بيعت دی، چې د ښځو په سياسي ګډون باندې دلالت کوي. په اسلام کې سياسي حق، چې په سياسي جوړښت او حکومت کې مشارکت دی، بيعت نومېږي او د اسلام دين ته د شموليت لپاره د نارينه او ښځو ترمنځ هېڅ توپير نه و او دواړه مکلف وو، چې بيعت وکړي. (خراساني، ۱۳۹۳: ٦۷)

د دغو مسايلو په اړه له غور کولو وروسته دا خبره واضح کېږي، چې اسلام له لومړي سره د ښځو سياسي او ټولنيز حقوق په رسميت پېژندلي دي او د ښځو سياسي او ټولنيز فعاليتونه د هغوی د عزت د ساتنې په شرط تاييدوي.

د ښځو د حقونو د دفاع او د هغوی د فعال سياسي او ټولنيز ګډون په موخه په نړۍواله کچه قوانين وضعه او تصويب شوي دي، چې په اړونده برخه کې د پرمختګونو لامل شوي دي. دلته د ښځو د ملاتړ په برخه کې ځينو مهمو نړۍوالو قوانينو ته اشاره کوو؛

۱. د ملګرو ملتونو منشور لومړنی نړۍوال قانوني سند دی، چې د ښځې او نارينه د برابرۍ خبره کوي. مخکې له دې هېڅ حقوقي سند په دې ډول د ټولو انسانانو پر برابرۍ ټينګار نه و کړی. د منشور په سريزه کې د ښځو او نارينه‌وو د حقوقو برابرۍ او همکارۍ ته اشاره شوې ده او ټينګار شوی، چې ياد اصل بايد له ژبني، نژادي او مذهبي توپير پرته تطبيق شي. د منشور په ۱۳ مادې او ب بند کې راغلي دي: "ټول غړي دولتونه ژمن دي، چې د ښځو او نارينه‌وو د حقوقو برابري هر وخت او پرته له نژادي، ژبني، مذهبي او قومي توپيرونو څخه مراعت کړي." (ارجمند، ۱۳۷۹ل: ۱۳)

۲. په ۱۹۴۸م کال کې د بشر حقوقو نړۍوالې اعلاميې د ښځو او نارينه‌وو د حقونو د برابرۍ خبره وکړه. دا اعلاميه ۳۰ مادې لري، چې ۱۰ مادې يې په صراحت سره د ښځو او نارينه‌وو د حقوقو برابري بيانوي. د دغې اعلاميې ارزښت په دې کې دی، چې د نورو حقوقي اسنادو لپاره يې يو قوي ملاتړ چمتو کړ.(افروز، ۱۳۹٦ل: ۹۵-۹۴)

په دې اعلاميه کې "هر څوک" او "هېڅوک" عبارات د دې ښکارندويي کوي، چې دا سند د جنسيت توپير نه مني او د ټولو انسانانو په حقوقو ټينګار کوي. (د بشر د حقوقو نړۍواله اعلاميه، ۱۹۴۸ز)

۳. د ښځو پر وړاندې د تبعيض له منځه وړلو کنوانسيون په ۱۹۷۹ز کال کې د ښځو پر وړاندې تبعيض ممنوع وګاڼه. په ۱۹۹۲ز کال کې د ښځو په وړاندې د تبعيض له منځه وړلو کمېټې د دغه کنوانسيون نيمګړتياوې تر يوه حده لرې کړلې او ۱۹ شمېرې عمومي توصيې د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي مسلې ته پام وکړ. د ملګرو ملتونو عمومي اسېمبلۍ هم په ۱۹۹۳ز کال کې د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي د له منځه وړلو اعلاميه تصويب کړه. (قاضيزاده، ۱۳۹٦ل: ۲۰)

په دغه کنوانسیون کې "د ښځو پر وړاندې تبعیض" هر هغه توپیر، محرومیت یا محدودیت دی، چې د جنسیت پر اساس وي او موخه یې د ښځې د حقوقو پېژندنې، یا له یادو حقونو څخه ګټې اخیستنې ته زیان رسول دي.

د مقالې مفهومي چوکاټ د دوو یادو شوو حکومتونو پر کړنو تطبیق شوی او هغه حکومت، چې د اسلام او نړۍوالو قوانینو له نظره د ښځو حقوقو ته ډېر قایل دی، د ښځو د حقوقو په برخه کې د مخکښ حکومت په توګه پېژندل کېږي.

د مفهومي چوکاټ له وړاندې کولو وروسته اوس اصلي بحث ته ننوځو، چې د اسلامي جمهوریت او اسلامي امارت حکومتو کې د ښځو د سیاسي او ټولنیزو حقونو ترمنځ پرتله ده. په پیل کې به د افغانستان د اسلامي جمهوریت په دوره کې یاد شوي حقوق وڅېړل شي او د دغه حکومت اقدامات به له اسلامي او نړۍوالو قوانینو سره تطبیق شي. وروسته به همدا میتود د طالبانو په دوره کې د یادو حقوقو د مطالعې لپاره وکارول شي.

## د افغانستان اسلامي جمهوریت په دوره کې د ښځو حقوق (۲۰۰۱-۲۰۲۱ز)

د افغانستان اسلامي جمهوریت حکومت د ښځو د حقوقو د ښه والي او ملاتړ لپاره یو شمېر اقدامات ترسره کړي دي، چې دا اقدامات په دوو برخو وېشل کېدی شي؛

۱. قانون جوړونه

۲. عملي اقدامات

### ۱. د قانون جوړونې له لارې د ښځو د حقوقو ملاتړ

قانون جوړونه کولی شي د هرې ټولنې په فرهنګ کې د یوه اصل په توګه ځای ونیسي. د افغانستان اسلامي جمهوریت هم هڅه کړې ده، چې د قوانینو د جوړونې او تطبیق له لارې د ښځو حقوق په افغانستان کې تامین کړي. په دغه مقاله کې به د هېواد تر ټولو مهم قوانین، چې د ښځو د حقوقو د ملاتړ په برخه کې تصویب شوي دي، وڅېړل شي، چې پکې د اساسي قانون جوړول، د مدني قانون او د کورنۍ قانون سمون او تطبیق، د انتخاباتو قانون او د ښځو د حقوقو اړوند د نړۍوالو معاهدو لاسلیک او تصویب شامل دي.

### ۱-۱. د اساسي قانون جوړول

د افغانستان اسلامي جمهوریت اساسي قانون ۱۲ فصلونه او ۱۶۲ مادې لري، چې په ۱۳۸۲ ل کال کې تصویب شوی دی.

د دغه قانون په دوهېم فصل کې د افغانستان د اتباعو اساسي حقوق ذکر شوي دي او د ښځو د ملاتړ په تړاو داسې راغلي دي: "د افغانستان د اتباعو ترمنځ هر ډول تبعیض او امتیاز منعه دی او د هېواد ټول اتباع، که ښځه وي که نر، د قانون په وړاندې مساوي حقوق لري." (د اساسي قانون ۲۲مه ماده)

### ۱-۲. د مدني قانون او د کورنۍ قانون اصلاح او تطبیق

د افغانستان دولت د بشري حقونو خپلواک کمیسیون او د ښځو چارو وزارت د وړاندیز پر بنسټ، هغه قوانین چې له نړۍوالو قوانینو سره په ټکر کې وو او ځینې نور هغه قوانین، چې د ښځو پر وړاندې یې تبعیضي موارد درلودل، جرح او تعدیل کړي دي. یاد دولت، سربېره پر دې، د واده او طلاق دفترونو جوړولو لپاره اسانتیاوې برابرې کړې دي، چې د ښځو حقوق لا زیات خوندي شي. (رضایي، ۱۳۸۸ل: ۱۰۸)

### ۱-۳. د ټاکنو قانون

د اساسي قانون ۸۳ ماده، چې ولسي جرګې ته د استازو د ټاکل کېدو لاره او طریقه ټاکي، دا شرط لري، چې باید له هر ولایت څخه لږ تر لږه دوې ښځې ولسي جرګې ته لاره ومومي. بل خوا، د اساسي قانون ۸۴ ماده کې، چې مشرانو جرګې ته د یو پر درېیمې برخې انتصابي غړو د ټاکل کېدو په اړه بحث کوي، ولسمشر اړ کوي، چې پنځوس سلنه غړي له مېرمنو څخه وټاکي.(د اساسي قانون ۸۳ او ۸۴ ماده)

پورته یاد شوي موارد مېرمنو ته یو اضافي امتیاز دی، چې په اساسي قانون کې پرې ټینګار شوی او د عمل جامه هم وراغوستل شوې ده.

### ۱-۴. د ښځو اړوند نړۍوالو تړونونو لاسلیک او تصویب

د افغانستان دولت د ښځو د حقونو ملاتړ او خوندیتوب په پار د قانوني اقداماتو په لړ کې د ښځو اړوند نړۍوالو تړونونو لاسلیک او تصویب ته هم پاملرنه کړې ده. لاندې به د دغو مهمو اقداماتو او هغو نړۍوالو تړونونو یادونه وکړو، چې افغانستان اسلامي جمهوریت یې پلي کولو ته ژمنتیا ښودلې وه.

#### ۱-۴-۱. د ښځو د ځورونې د مخنیوي قانون

د ۲۸۶۳ شمېرې حکم پر بنسټ، چې د وخت ولسمشر لخوا توشیح شوی، د ښځو او ماشومانو د ځورونې د مخنیوي قانون د ۱۳۹۵ل کال د مرغومي په ۲۰مه نېټه تصویب شو. د دغه قانون موخې په دې ډول دي: د ښځو او ماشومانو د ځورونې مخنیوی، د زیانمنو کسانو ملاتړ، د مناسب چاپېریال

برابرول او د رسنیو له لارې د ټولنې د پوهاوي لوړول. د دغو موخو لپاره د ښځو او ماشومانو د څورونې د مخنیوي عالي کمېسیون، چې د کار او ټولنیزو چارو وزیر یې مشري کوي، جوړ شوی دی. دا کمېسیون د دولتي او غیردولتي ادارو او اړوندو موسسو ترمنځ همغږي رامنځته کوي او د لوېې څارنوالۍ، کورنیو چارو وزارت، د ارشاد وزارت، عدلیې وزارت، د عامې روغتیا وزارت، د پوهنې وزارت، د لوړو زده‌کړو وزارت، د بشري حقونو خپلواک کمېسیون او د ښځو چارو وزارت استازي پکې ګډون لري. (د افغانستان عدلیې وزارت، د ښځو او ماشومانو د څورونې د مخنیوي قانون، ۱۳۹۶ل)

## ۱-۴-۲. له ښځو څخه د ملاتړ د مرکزونو د جوړولو قانون

د افغانستان اسلامي جمهوریت د وزیرانو شورا د ۲۱ ګڼې قانون له مخې، چې د ۱۳۹۰ل د وري میاشتې په ۱۴ نېټه تصویب شو، په ټول افغانستان کې د هغو ښځو لپاره حمایوي مرکزونه جوړ شول، چې له تاوتریخوالي سره لاس او ګریوان وي. امن ځایونو ته د مېرمنو لاسرسی، فیزیکي او رواني ملاتړ، د ښځو خوندیتوب، عدالت ته د مېرمنو لاسرسی، د ښځو پر ځان بسایني لپاره امکانات برابرول او د ښځو د ملاتړ په پار د مختلفو دولتي ادارو ترمنځ د همغږۍ رامنځته کول، د یاد قانون موخې وي. د وخت دولت د یاد قانون د ښه او آغېزناک تطبیق او د مختلفو دولتي ادارو ترمنځ د همغږۍ رامنځته کولو په موخه د (ښځو د ملاتړ مرکز د فعالیتونو د همغږۍ او انسجام کمېټه) رامنځته کړه، چې د مختلفو دولتي او غیر دولتي اداراتو غړي پکې شامل وو. یاده کمېټه د ښځو چارو وزارت، لوېې څارنوالۍ، کورنیو چارو وزارت، د بشري حقونو خپلواک کمېسیون، پوهنې وزارت، لوړو زده‌کړو وزارت او روغتیا وزارت له استازو تشکیل شوې وه. (د افغانستان د عدلیې وزارت، د ښځو د ملاتړ مرکز جوړولو قانون، رسمي جریده، ۱۳۹۰ل)

## ۲. د افغانستان اسلامي جمهوریت له لوري د ښځو حقونو د ملاتړ په موخه عملي اقدامات

په تېره برخه کې د ښځو د حقونو د ملاتړ لپاره د افغانستان د حکومت له بېلابېلو اقداماتو سره اشنا شوو، چې زیاتره یې د قانون جوړونې اړخ درلود. اوس به په دې برخه کې د حکومت عملي اقدامات وڅېړو؛ ځکه چې د ښځو ملاتړ پر قانون جوړولو سربېره عملي اقداماتو ته ډېره اړتیا لري.

## ۱-۲. پارلمان ته د ښځو داخلېدل

د افغانستان د اساسي قانون په ۸۳ مه ماده کې راغلي دي: «په انتخاباتي قانون کې باید داسې تدابیر ونیول شي، چې انتخاباتي نظام د هېواد ټولو خلکو ته عادلانه او عمومي استازولي تامین کړي او په منځني ډول د هر ولایت د نفوسو په تناسب لږ تر لږه دوې ښځې په پارلمان کې غړیتوب ترلاسه کړي.» د قانون په دې ماده کې د ښځو په ګټه د مثبت تبعیض له اصولو څخه کار اخیستل شوی دی او پر همدې بنسټ د ښځو د ملاتړ لپاره په پارلمان کې ځانګړې سهمیه ټاکل شوې ده. دا اقدام د ښځو د سیاسي مشارکت کیفیت او آغېز ته پام کوي؛ ځکه چې د اساسي قانون له مخې باید د افغانستان د استازو په مجلس کې لږ تر لږه ۲۵ سلنه غړې ښځې وي.(مقصودي او غله‌دار، ۱۳۹۰ل: ۱۹۶-۱۹۸)

## ۲-۲. په دولت کې د ښځو ګډون

د افغانستان د وخت حکومت د نړۍوالو تړونونو پر بنسټ او د ښځو حقونو د درناوي کلتور رامنځته کولو په موخه د درېیو وزارتونو د چارو سمبالښت ښځو ته وسپاره. د ښځو چارو وزارت، د ځوانانو چارو وزارت او د شهیدانو او معلولینو وزارت د ښځینه وزیرانو لخوا اداره کېدل. همدارنګه ځینې والیان هم ښځې ټاکل شوې وې، چې له هغې جملې اغلې حبیبه سرابي یو پېژندل شوی مثال دی.(رضایي، ۱۳۸۸ل: ۱۱۰)

## ۳-۲. د ښځو چارو وزارت تأسیس

د ښځو چارو وزارت په ۱۳۸۰ل کال کې د بن کنفرانس د توافقاتو پر بنسټ د افغانستان اسلامي جمهوریت د یوې وزارتخانې په توګه رامنځته شو. دا وزارت د ښځو حقونو ته د پاملرنې او د دوی د وضعیت د ښه کولو په موخه جوړ شو او د ښځو او دولت ترمنځ یې د پله په توګه کار کاوه. دغه وزارت د ښځو د حقونو ملاتړ، د تاوتریخوالي د مخنیوی او ښځو اړوند دولتي پروګرامونو پلي کولو دنده درلوده. همدارنګه دغه وزارت د ښځو اړوند ملي او نړۍوالو قوانینو له پلي کېدو څخه په نظارت کولو کې هم اساسي رول درلود. د تعلیمي، فني او حرفوي پروګرامونو ترتیب او پلي کول، د ښځو اړوندو سمینارونو جوړول، د بهرنیو مرستو راجلبول، د ښځو د زده‌کړو مرکزونو جوړول، روغتیایي او

رفاهي اسانتیاوې برابرول، په دولتي ادارو کې د ښځو ګډون ته امکانات برابرول او له بې سرپرسته او اړمنو ښځو سره مرسته کول د یاد وزارت مهم فعالیتونه وو. همدارنګه د ښځو د حقونو د خوندیتابه لپاره د حقوقي ریاست تأسیس، د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي قضیو د انلاین ډېټابېس جوړول او د ملي ستراتیژۍ جوړول د دغه وزارت له مهمو اقداماتو څخه دي.

## ۳. د طالبانو د واکمنۍ پر مهال د ښځو حقونه (۲۰۲۱م کال څخه راوروسته)

په افغانستان کې په ټولنیزو او سیاسي فعالیتونو کې د ښځو ونډه او حضور د طالبانو د واکمنۍ یوه له جنجالي موضوعاتو څخه ده. د ښځو پر وړاندې د طالبانو چلند د هغوی له دې باور څخه سرچینه اخلي، چې ښځه د انساني کرامت له مخې له نارینه سره برابره نده او په ټيټه درجه کې ده. طالبانو له خپل ظهور څخه تر نن ورځې پورې د ښځو هېڅ ونډه او رول منلی ندی او هېڅ طرحه یې د هغوی د ونډې لپاره نده وړاندې کړې. د ښځو پر وړاندې د طالبانو د تبعیضي او سخت چلند یو اړخ فقهي دی. په عنعنوي فقه کې، ښځه په ټیټه درجه کې ده. د ښځې او نارینه نابرابر دریځ او حقونه په عنعنوي فقه کې یو بنسټي اصل دی. طالبان، چې د فقهي مسایلو په اړه ډېره کمه پوهه لري، په دې باور دي، چې نارینه او ښځې برابر ګڼل له اسلام سره په ټکر کې دي او غاړه اېښودل ورته ناروا دي.

د ښځو پر وړاندې د طالبانو د تبعیضي او سخت چلند بل اړخ قبیلوي دود دی. طالبان له قبیلوي ټولنیز جوړښت څخه راوتلي دي، چې په هغه کې د ښځې ارزښت د ښارونو او مدني ټولنو له ارزښتونو سره ډېر زيات توپير لري.(سعیدي، ۱۴۰۰ل) د طالبانو د برداشت له مخې، ښځې پرته له شرعي محرم څخه له کوره د وتلو حق نلري. له بلې خوا، د حکومتي ادارو یو شمېر نارینه کارمندان بېرته دندو ته غوښتل شوي دي، په داسې حال کې چې د ښځینه کارمندانو برخلیک نامعلوم دی او تر اوسه دندو ته غوښتل شوي ندي.(د طالبانو ریاست الوزرا، ۱۴۴۳/۲/۸س)

طالبان نه یواځې دا چې د نارینه‌وو او ښځو په برابرۍ په باور نلري، د بشري حقونو نړۍوالو اصولو او د انساني کرامت پر برابرۍ هم باور نلري. د طالبانو له برداشتونو او د اسلام او بشري حقونو د ارزښتونو تر منځ ښکاره تضاد شته او دا تضاد په افغانستان کې د ښځو پر وړاندې د طالبانو په چلند کې هم په څرګند ډول لیدل کېږي. که څه هم اسلام د ښځو د حرمت ساتنې په موخه هغوی ته په شرعي چوکاټ کې د فعالیت اجازه ورکوي؛ خو د اسلامي امارت د حکومت برداشت او فهم له اسلام او د قرآن له صریح آیتونو سره په ټکر کې دی. سربېره پر دې د اسلامي امارت کړنې له نړۍوالو قوانینو، لکه د نارینه‌وو او ښځو د مساوي حقونو او د بشري حقونو له ملاتړ سره په بشپړه توګه په ټکر کې دي.

اسلامي امارت خپلو نویو قوانینو کې ښځې له زده‌کړو او کار څخه منعه کړې دي او د نړۍوالې ټولنې د فشارونو سربېره یې د ښځو د زده‌کړو او کار حق په پام کې ندی نیولی. د امارت اسلامي د نوي قانون له مخې، ښځې حق نلري، چې له نارینه‌وو سره یو ځای کار وکړي او ډېر ژر به د دوی حکومت د شریعت قوانینو عملي کول پیل کړي. که دا قوانین پلی شي؛ نو ښځې به په دولتي ادارو، بانکونو، رسنیو، موسسو او نورو ځایونو کې له کار کولو څخه منعه شي.

د اسلامي امارت د امر بالمعروف او نهی عن المنکر وزارت په یوه فرمان کې ښځې د حجاب او په ځانګړې توګه د بورکې پر اغوستلو مکلفې کړې دي، په داسې حال کې چې د قرآن په آیتونو کې یواځې د ښځې سر، غاړې او سینې د پټولو یادونه شوې ده؛ خو طالبان ښځې مجبوروي، چې بورکه واغوندي او مخ پټ کړي، چې دا خپله د ښځو پر اجتماعي حقونو برید بلل کېږي. دا ډول فرمانونه په اسلام کې ځای نلري او له اسلام څخه یواځې یو افراطي برداشت دی.(هرپسن، ۲۰۲۲ز؛ فر او سعادت، ۱۳۸۹ل: ۱۰۶)

د ۲۰۲۱ مېلادي کال د اګسټ په میاشت کې د طالبانو لخوا د افغانستان واک ترلاسه کولو وروسته دا هېواد د بشري حقونو، په ځانګړي ډول د ښځو د حقونو له اړخه د خپل تاریخ تر ټولو بدې ورځې تېروي. نن ورځ افغان وګړي له خپلو لومړنیو او اساسي بشري حقونو څخه بې برخې شوي دي، په ځانګړې توګه ښځې، چې د ټولنې نیمه برخه جوړوي، په بشپړه توګه له سیاسي، ټولنیز او اقتصادي ژوند څخه ایستل شوي دي. په داسې حال کې چې نړۍ د ښځو او نارینه‌وو دواړو بشري حقونو په برابرۍ ټینګار کوي، نن ورځ ښځې په افغانستان کې له خپلو طبیعي او بنسټي حقونو، لکه د زده‌کړو حق، د کار حق، په سیاسي چارو کې د ګډون حق،

د آزادۍ حق، د غونډو جوړولو، مظاهرو او لاریونونو حق او نورو څخه بې برخې شوې دي.
همدارنګه، د ښځو د محرومیتونو په تړاو اعتراض او عدالت غوښتنې ته د طالبانو ځواب یواځې وېره اچول، ګواښ کول، شدیدې ځپنې، خپلسرې نیونې، زندان، وژنې او شکنجې دي.
طالبانو له واک ترلاسه کولو وروسته د ښځو پر وړاندې پراخ سېستماټیک تبعیض او سخت محدودیتونه او محرومیتونه وضعه کړي دي، چې ځینې اجتماعي او سیاسي محدودیتونه لاندې څېړو؛

## ۳-۱. د ازادۍ حق

طالبانو د ټولنې په ټولو برخو کې د ښځو د ازادۍ حق محدود کړی دی. د طالبانو د فرمانونو له مخې، ټولې ښځې اړې دي، چې اوږد تور لباس واغوندي. په رسمي او عامه ځایونو کې د هر بل رنګ جامو اغوستل سزا لري. همدارنګه، ښځې مکلفې دي چې خپل مخونه د تور ماسک په وسیله پټ کړي. د دې محدودیتونو په وسیله، طالبان نه یواځې د ښځو هویت له منځه وړي، بلکې هڅه کوي، چې هغوی له ټولنې څخه په بشپړ ډول محوه کړي.
سربېره پر دې، طالبانو د ښځو یو له لومړنیو او طبیعي حقونو، یعنې د ټولنې دننه د تګ راتګ آزادي هم محدوده کړې ده. د دې محدودیت له مخې، بالغې ښځې پرته له محرم نارینه څخه نشي کولی له هېواد څخه بهر یا حتی د هېواد دننه نورو ولایتونو ته سفر وکړي. په ډېرو سختو حالاتو کې ښځې پرته له محرم نارینه څخه دولتي ادارو، روغتونونو او صحي مرکزونو ته هم د تګ اجازه نلري. دا په داسې حال کې ده، چې ډېری ښځو خپل خاوندان، ورونه او پلرونه په جګړو او چاودنو کې له لاسه ورکړي دي. د دغو ظالمانه محدودیتونو په پایله کې، دغه ښځې له ټولو ټولنیزو او صحي خدماتو څخه بې برخې کېږي. همدارنګه، د دغو محدودیتونو له امله، ډېری ښځې د بهرنیو بورسونو یا د درملنې لپاره د اړینو سفرونو فرصت له لاسه ورکوي.
پر دې سربېره سربېره، طالبانو د ښځو پر وړاندې نور تبعیضي او غیر انساني محدودیتونه هم وضعه کړي دي، لکه پارکونو، تفریحي مرکزونو او رسټورانټونو ته د ښځو پر تګ بندیز او د ښځو د حمامونو تړل.
د دغو محدودیتونو د وضعه کولو هدف دا دی، چې طالبان غواړي ښځې له ټولنې څخه د هویت او فیزیکي حضور په توګه محوه کړي او هغوی د کورونو بندیانې کړي. طالبان د دغو اقداماتو له لارې د انساني حیثیت او کرامت، آزادۍ او برابرۍ څلور بنسټي اصول، چې د ټولو بشري حقونو او ازادۍ په سر کې ځای لري، نقض او تر پښو لاندې کړي دي.

## ۳-۲. د سیاسي ګډون حق

د ښځو د سیاسي ګډون حق له نارینه‌وو سره د برابرۍ پر بنسټ په مهمو نړۍوالو اسنادو کې په ښکاره توګه یاد شوی دی. د بشري حقونو د نړۍوالې اعلامیې په ۲۱مه ماده کې د ټولنې د ټولو وګړو، په ځانګړې توګه د ښځو، د سیاسي ګډون حق له نارینه‌وو سره مساوی دی. سربېره پر دې، د ۱۹۵۲ز کال د ښځو د سیاسي حقونو کنوانسیون په څرګند ډول د ښځو او نارینه‌وو د سیاسي حقونو د مساوات اصل له منشور او تړونونو سره سم عملي کولو ته ژمنتیا ښودلې ده. همدارنګه د ښځو پر وړاندې د هر ډول تبعیض د له منځه وړلو کنوانسیون په ۷مه او ۸مه ماده کې د ښځو د سیاسي ګډون حق یاد شوی دی. په دې کې د ټولو انتخاباتو او ټولپوښتنو لپاره د رایې ورکولو حق، د ټاکل کېدو حق، د دولت د سیاستونو د ټاکلو او دولتي دندو ته د ښځو ګومارنې او په ټولو کچو کې د دولتي چارو په ترسره کولو کې له نارینه‌وو سره د مساوي شرایطو غوښتنه شوې ده.
په داسې حال کې چې افغانستان د دې ټولو کنوانسیونونو او بشري حقونو د معاهدو غړیتوب لري، لکه څنګه چې وینو، د طالبانو د واکمنۍ له پیل وروسته د ښځو د سیاسي ګډون حق په بشپړ ډول د دغې ډلې لخوا نقض شوی دی. په حقیقت کې، هېڅ ښځه د طالبانو په کابینې او لوړپوړو دولتي څوکیو کې نه لیدل کېږي. په اصل کې ښځې په بشپړ ډول د هېواد له سیاسي ډګر څخه لرې شوې دي.

## ۳-۳. د سوله‌ییزو غونډو او اعتراضونو حق

د غونډو او لاریونونو آزادي د بشري حقونو له بنسټي اصولو څخه شمېرل کېږي، چې د بشري حقونو د نړۍوالې

اعلامیې په ۲۰مه ماده، د مدني او سیاسي حقونو د نړۍوال کنوانسیون په ۲۱مه ماده، د کار نړۍوال سازمان په ۸۷ او ۹۸ ګڼه کنوانسیونونو او د بشري حقونو په نورو نړۍوالو او سیمه‌ییزو سندونو کې پرې په کلکه ټینګار شوی دی.

ټول وګړي او سیاسي - ټولنیزې ډلې په یوه ټولنه کې دا حق لري، چې د سوله‌ییزو مدني غونډو او اعتراضونو له لارې خپل غږ، واکمنانو ته ورسوي او هغوی د خپلو پالیسیو، برنامو او کړنو په اړه ځواب ویلو ته اړ کړي. په داسې حال کې، چې طالبان د حق غوښتنې کوچني غږونه په ډېر شدت او ټول ځواک سره ځپي، معترضين وهي، نیسي، زنداني کوي او شکنجه کوي. هغه زړه‌وړې او پوهې ښځې، چې د خپلو پایمال شویو حقونو د دفاع او عدالت غوښتنې لپاره اعتراض کوي، د طالبانو له لوري په شدیده توګه ځپل کېږي، چې حتی د دوی او د دوی د کورنیو ژوند له جدي خطر سره مخ کوي.

سربېره پر دې، د طالبانو د واکمنۍ له پیل راهیسې، د ښځینه معترضینو خپلسرې نیونې، زنداني کول او شکنجه دوام لري. ځینې راپورونه څرګندوي، چې ځوانې ښځې، په ځانګړې توګه مدني فعالانې، د رسنیو کارکوونکې، د پخواني حکومت مامورینې، د پولیسو غړې او د تېرو امنیتي ځواکونو غړې د طالبانو له خوا تښتول شوې او بیا د هغوی مړي موندل شوي دي. د بشري حقونو د څار اداري په یوه راپور کې د افغانستان د سقوط د کلیزې په مناسبت ویلي چې د طالبانو د حکومت له لوري د ښځو د حقونو نقض اوس له ۹۰مې لسیزې (د طالبانو له لومړنۍ واکمنۍ) څخه ډېر ټکان ورکوونکی دی.

د بشري حقونو د څار اداري د معلوماتو له مخې، سره له دې چې د بشري حقونو ادارو ګڼې ناستې کړې دي؛ خو د هرې ورځې په تېرېدو سره ښځې او نجونې نه جبرانېدونکي زیانونه تجربه کوي. (Etilaatroz, 2023)

په ټوله کې، د اسلامي امارت د واکمنۍ پر مهال په افغانستان کې د ښځو سیاسي او ټولنیز حقونه په هېڅ ډول د اسلامي شریعت له اصولو او نړۍوالو معیارونو سره سمون او همغږي نلري. طالبانو ښځې له زده‌کړو څخه منعه کړې دي او همدارنګه د کار په ساحه کې یې پرې ګڼ محدودیتونه وضعه کړي دي. تر دې مهاله پورې په افغانستان کې د ښځو حقونو لپاره نه طالبانو خپله کومه طرحه جوړه کړې او نه یې کوم نړۍوال معیار منلی؛ نو داسې ښکاري چې دا موضوع د اسلامي امارت حکومت د کاري اجنډا برخه نده.

## پایله

په افغانستان کې د ښځو سیاسي او ټولنیزو حقونو د ملاتړ او خوندیتابه په برخه کې د افغانستان اسلامي جمهوریت او اسلامي امارت دواړو حکومتونه بېلابېلې تجربې لري، چې ترمنځ یې واضح توپیر شته دی. د افغانستان اسلامي جمهوریت په دوره کې، د ښځو د حقونو د خوندي کولو لپاره مهم قوانین وضعه شول، لکه د اساسي قانون د برابرۍ اصول، د ټاکنو قانون، د ښځو د ملاتړ او د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د مخنیوي قوانین، چې د ښځو د سیاسي او ټولنیزو حقونو د تامین او ګډون لپاره مهم اقدامات بلل کېږي. دغو قوانینو ښځو ته په تعلیمي، روغتیایي، ټولنیزو او سیاسي برخو کې فرصتونه برابر کړل او په دولتي، پارلماني او نورو برخو کې یې ښځو ته د پرمختګ زمینه برابره کړه. دا هڅې نه یواځې د اسلامي اصولو، بلکې د نړۍوالو بشري حقونو د معیارونو پر بنسټ رامنځته شوې وې او دا په ګوته کوي، چې د افغانستان اسلامي جمهوریت د ښځو د حقونو په برخه کې د بین‌المللي اصولو درناوی کاوه.

په مقابل کې، د اسلامي امارت په واکمنۍ کې ښځې د خپلو اساسي حقونو په برخه کې له ګڼو محدودیتونو سره مخ شوې دي. دغه حکومت د ښځو د کار او زده‌کړې پر وړاندې سخت محدودیتونه وضعه کړي او ښځې یې له عامه ژوند او ټولنیز مشارکت څخه منعه کړې دي. د اسلامي امارت له نظره، ښځې یواځې د کور په چاپېریال کې او په محدودو دندو کې د کار او فعالیت حق لري، چې دا لیدلوری له اسلامي اصولو او نړۍوالو بشري حقونو سره په ټکر کې دی. د اسلامي امارت حکومت د ښځو پر وړاندې د خپلو محدودوونکو او سختو قوانینو په تطبیق کې اسلامي اصول له پامه غورځولي او د ښځو پر بنسټي حقونو یې سترګې پټې

کړې دي.
په دې مقاله کې څرګندېږي، چې د افغانستان اسلامي جمهوريت د ښځو د حقونو په خوندي کولو کې د اسلامي ارزښتونو او نړۍوالو معيارونو پر بنسټ هڅې کړې وې، په داسې حال کې چې د اسلامي امارت محدودوونکي او سخت قوانين او اقدامات د ښځو د سياسي او ټولنيزو حقونو پر وړاندې لوی خنډونه ګرځېدلي دي. د دغو شرايطو د ښه کولو لپاره اړينه ده، چې نړۍواله ټولنه، اسلامي علما، مدني فعالان او د افغانستان بېلابېل قشرونه د ښځو د حقونو د اعادې او ملاتړ لپاره په ګډه او منظمه توګه کار وکړي. اوس وخت کې دا ستره اړتيا ده، چې له اسلامي امارت څخه د ښځو حقونو ته د درناوي او له نړۍوالو اصولو او اسلامي ارزښتونو سره په همغږۍ توګه د ښځو د حقونو د تامين په موخه فشار راوړل شي، چې مېرمنې له خپلو حقونو څخه برخمنې شي او د هېواد او ټولنې په وده او پرمختګ کې برخه واخلي.

## اخځليکونه


۱. خراساني، مهين، (۱۳۹۳ل). بررسی حقوق سياسی - اجتماعی بنيادين زن در فقه و حقوق موضوعه.
۲. رضايي، مهري. (۱۳۸۸ل). «مهمترين چالش‌های حقوقی زنان در افغانستان: آموزش، خشونت و ازدواج». د ماسترۍ تېزېس، تهران پوهنتون.
۳. رضايي، مهري.(۱۳۸۸ل). مهمترين چالش‌های حقوقی زنان در افغانستان: آموزش، خشونت و ازدواج». د ماسترۍ تېزېس، تهران پوهنتون.
۴. عنايت، حليمه او موحد، مجيد او براتي، شهناز. (۱۳۹٦ل). مطالعه جامعه شناختی مشارکت سياسی زنان از ديدگاه اسلام. د ښځو او کورنۍ په اړه د مطالعاتو څېړنيزه مجله.
۵. قاضي زاده، حبيب الرحمن.(۱۳۹٦ل).«منع خشونت عليه زنان در نظام حقوقی افغانستان در پرتو تعهدات اين دولت در چارچوب نظام بين المللی حقوق بشر».
٦. قيوم زاده، محمود. (۱۳۸۷ل). «حقوق اجتماعی و مشارکت سياسی زنان از ديدگاه اسلام»، د اسلامي علومو علمي او څېړنيزه مهالنۍ. درېيم کال، ۱۲مه ګڼه، ۷۵-۱۰۲ مخونه، ژمی.
۷. مقصودي، مجتبی او غله‌دار، ساحره.(۱۳۹۰ل). «مشارکت سياسی زنان افغانستان در ساختار جديد قدرت پس از حادثه ۱۱ سپتامبر». د نړۍوالو اړيکو د مطالعاتو مهالنۍ.
۸. د افغانستان اسلامي جمهوريت اساسي قانون، په ۱۳۸۲ل کې تصويب شوی دی.
۹. د افغانستان عدليې وزارت، له ښځو د ملاتړ د مراکزو د جوړولو قانون، په ۱۳۹۰/٦/۱۴ل کې تصويب شوی.
۱۰. د افغانستان عدليې وزارت، د انسان او ښځو قاچاق پر وړاندې د مبارزې قانون، په ۱۳۹۵/۹/۲۲ل کې تصويب شوی.
۱۱. د افغانستان عدليې وزارت، د ماشومانو او ښځو د ځورونې د مخنيوي قانون، په ۱۳۹۵/۱۰/۲۰ل کې تصويب شوی.
۱۲. د افغانستان عدليې وزارت، د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي د مخنيوي قانون، په ۱۳۹۹/۴/۲۹ل کې تصويب شوی.
۱۳. د ښځو د شرعي مکلفتيا په اړه د اسلامي امارت فرمان، د افغانستان د اسلامي امارت رياست الوزراء، ۱۴۴۳/۲/۱۸س.
۱۴. (وضعيت زنان افغانستان در تحولات سياسی)، سعيدي، ګلناز، د سولې د مطالعاتو نړۍوال مرکز.
https://peace-ipsc.org/fa/
۱۵. (طالبانو «د ښځو چارو وزارت» د «امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت» ته بدل کړ.)
https://per.euronews.com/2021/09/18/taliban-rulers-have-replaced-thewomens-ministry-with-moral-police
١٦. Etilaatroz. (2023, March 12). وضعيت حقوق بشری زنان افغانستان.https://www.etilaatroz.com/167580/وضعيت-حقوق-بشری-زنان-افغانستان/
17. Harrison, Emma. 2022. " Taliban order all Afghan women to cover their Faces in public." The guardian.com.



# د اسلام سپېڅلي دین او لیبرالیزم له نظره د ښځو د کار حق

**عادله غزنوي**


**لنډیز**

په کار او استخدام کې د ښځو فعاله ونډه د ټولنو لپاره یوه ځرګنده اړتیا بلل کېږي. د ښځو استخدام د دې معنیٰ لري، چې ښځې د ټولنیزو جوړښتونو په چوکاټ کې د اقتصادي ګټې لپاره برخه واخلي. په افغانستان کې ښځې، د اوسنیو شرایطو له مخې، له بېلابېلو محدودیتونو او خنډونو سره مخ دي؛ چې لاملونه یې ناسم کلتورونه، له اسلامه غلط تعبیرونه او د ښځو له مقامه د خلکو ناپوهي دي. د ښځو د استخدام په اړه بېلابېلې نظریې موجودې دي؛ په دغه څېړنه کې د لیبرالیزم او اسلام نظرونه څېړل شوي دي. د دغه هدف د ترلاسه کولو لپاره له کتابتوني میتوده، د بېلابېلو کتابونو، مقالو، وېبپاڼو مطالعې او د قرآني آیتونو له تحلیل څخه کار اخیستل شوی دی. د دغې څېړنې پایلې ښیي، چې اسلام، کار او هڅې ته ډېر اهمیت ورکړی او د ښځې لپاره یې له کور نه بهر کار کول روا بللي دي. د نساء سورې ۳۲م آیت د ښځو د استخدام جواز په ډېر روښانه ډول ځرګندوي. په ښکاره توګه ویلی شو، چې له اسلامي نظره د ښځو کار کولو اجازه شته او ښځې کولی

شي د کورنۍ د نظام د ساتنې، د ټولنيزو او فردي ګټو د مراعات کولو، د کار د مشروعيت، د حجاب او عفت د مراعات کولو او د سختو کارونو د مخنيوي په صورت کې په ټولو اقتصادي ډګرونو کې فعاله ونډه واخلي. د دغه تحقيق پايلې ښيي، چې لېبرالېزم د ښځې په ځان بسياينې باندې تکيه کوي، د ښځې فردي حقونه د کورنۍ پر حقونو غوره ګڼي او په شخصي چارو کې د دولت لاسوهنه محدودوي. لېبرالېزم د برابرو حقونو او د ټولو ډګرونو لپاره د مساوي کاري فرصتونو له مخې د ښځو استخدام پرته له قيد او شرطه په رسميت پېژني.

**کليدي کلمې:** د کار حق، استخدام، ښځې، اسلام، لېبرالېزم

## سريزه

ښځې د ټولنې د يوې مهمې برخې په توګه په ټولنيزو، سياسي، کلتوري او له ټولو نه ډېر مهم، اقتصادي ډګرونو کې د پام وړ رول لري. د هېوادونو په اقتصاد کې د ښځو ونډه تل د بحث وړ پاتې شوې ده؛ تر دې چې ښځې د ټولنې د نيمايي برخې په توګه د هېوادونو په اقتصادي ځان بسياينې کې مهمه ونډه لرلی شي. که ښځې په ټولنو کې کار وکړي، د ټولنې د کاري ځواک يوه برخه برابرېږي او که موږ غواړو پرمختګ وکړو، نو دغه ځواک ته اړتيا لرو. ښځې د ټولنې د کاري ځواک تر څنګ، د خپلو زده‌کړو له مخې، کولی شي ټولنه د ځان بسياينې پر لور بوځي.

ښځې د تاريخ له پيله د نارينه‌وو ترڅنګ په کار بوختې وې؛ خو دغه کارونه د کورنيو فعاليتونو برخه بلل کېدل او ښځې يې په بدل کې مزد نه ترلاسه کاوه. د وخت په تېرېدو او د هېوادونو په اساسي بدلونونو سره، د کار او استخدام په مفهوم کې بدلون راغی. د ښځو اقتصادي فعاليتونه له کور څخه ټولنې ته غځېدلي دي. د علم، ټېکنالوژۍ او د ټولنو د عصري کېدو په پرمختګ سره ښځې وتوانېدې، چې خپلې وړتياوې زياتې کړي او د نارينه‌وو په څېر کاري مهارتونه ترلاسه کړي. دا وضعيت د دې لامل شو، چې د ښځو کاري ډګر له کور څخه بهر پراخ شي. ښځو د زده‌کړې په ترلاسه کولو سره، نه يواځې په توليدي فعاليتونو کې ونډه اخيستې، بلکې په نورو علمي او ټولنيزو فعاليتونو کې يې هم ګډون کړی دی.

د ښځو کار، که څه هم په ډېرو مواردو کې د هغوی د خپلواکۍ او د ځانباور د زياتېدو لامل ګرځي، په نړۍ‌واله کچه يې د بېلابېلو فکري نظريو لپاره اندېښنې هم راپيدا کړې دي او د ښځو د استخدام په اړه يې نظرونه آغېزمن کړي دي. نن ورځ په ځينو وروسته پاتې ټولنو کې دغې ستونزې داسې وده کړې ده، چې د ښځو له کور نه بهر کار کولو په اړه بېلابېل نظريات رامنځته کړي او دا نظرونه دي، چې حکومتونو ته يې د هغوی د رسميت پېژندلو په مسله کې د نظر بدلون ورکړی دی.

دين د اسلامي ټولنو له حقوقي سرچينو څخه ګڼل کېږي او ډېرې وخت د ښځو په استخدام کې محدوديتونه هم دين ته منسوبېږي. په ځينو ټولنو کې د دين او شريعت، يا کله ناکله د ناسمو کلتورونو او د اسلام د منحرفو تعبيرونو، چې د نړۍ په کچه يې بېلابېلې ترهګرې ډلې ادعا لري، له امله هڅه کېږي، چې ښځې د ټولنې له استخدام څخه بې برخې کړي او د ښځو استخدام د داسې يوې لوېديځې فرهنګي پديدې په توګه معرفي کړي، چې له اسلام سره هېڅ اړخ نه لګوي.

د دې پوښتنې ځواب ته اړتيا ده، چې آيا ديني او اسلامي زده‌کړې د ښځو د استخدام لپاره محدوديتونه رامنځته کوي؟ او اسلام د ښځو د استخدام په اړه څه نظر لري؟ مهمه خبره دا ده، چې آيا د اسلام له نظره ښځې کولی شي د کور له چوکاټه بهر کار وکړي؟

د ښځو د استخدام په اړه په ټولنو او بېلابېلو ايډيالوژيو کې يو واحد نظر نشته. شونې ده، چې يو ټولنه ښځې د شتمنۍ په توليد کې د غوره وسيلې په توګه وګڼي، په داسې حال کې چې بله ټولنه د خپلو منل شويو اساساتو پر بنسټ له دې مسلې سره مختلف چلند وکړي. دا موضوع له اعتقاداتو، موخو او د يوه هېواد له اقتصادي، سياسي او ټولنيزو جوړښتونو سره تړاو لري.

د ښځو د استخدام موضوع د بېلابېلو نظرياتي ايډيالوژيو لپاره د پام وړ ارزښت لري او تل د بېلابېلو مکتبونو، لکه لېبرالېزم، مارکسېزم، فېمېنېزم او اسلام، له نظره د بحث وړ پاتې شوې ده. د اسلام او لېبرالېزم تر منځ د نظر د توپير څرګندول او د ښځو د استخدام ځای په دې دواړو ايډيالوژيو کې څرګندول، د دغې څېړنې له مهمو موضوعاتو څخه دي. د دغې څېړنې مطالب يوه برخه او دوه مبحثونه

لري، چې په لومړي مبحث کې د اسلام له نظره د ښځې مقام، د ښځو د کار حق او د ښځو د استخدام لپاره د اسلام پر بنسټ شرایط او اړتیاوې څېړل شوې دي. په ورپسې دوهیم مبحث کې د لیبرالیزم له نظره د ښځې مقام او د لیبرالیزم د اصولو پر بنسټ د ښځو د استخدام په اړه بحث شوی دی.

## لومړی مبحث: مقدس دین اسلام او د ښځو حقونه او مقام

اسلام د ټولو کچو په ښوونو کې لوړ ارزښتناک او ژغورونکي پیغامونه لري. د ښځو د حقونو په برخه کې هم اسلام ډېرې ګټورې او لوړې لارښوونې وړاندې کړې دي. اسلام د بشر په ټولنیز جوړښت کې د ښځې د ونډې ښې کولو او د ټولنیز عدالت د تامین لپاره یو له بډایه او ارزښتناکو ښوونځیو څخه ګڼل کېږي. د اسلام یو له غوره پروګرامونو څخه د ښځو پر وړاندې د ټولو بې عدالتیو له منځه وړل دي.

اسلام د قومي، نژادي، جنسي او مالي برترۍ بنسټونه ونړول او ټول انسانان، که نارینه دي، که ښځې، شتمن دي که بېوزله، عرب دي که عجم، تور دي که سپین، ښکلي دي که بدرنګ، ټول یې په یوه کتار کې برابر کړل. تاریخ داسې هېڅ دین، کلتور یا نظام نه پېژني، چې د اسلام په اندازه یې د مور، مېرمنې، لور او خور په توګه د ښځې ځای او مقام ته درناوی کړی وي.

د اسلام یوه ځانګړنه د ښځو کرامت ته احترام او د هغوی پر انسانیت باندې تاکید دی، چې هغوی د مسوولیت د ترسره کولو وړ وګڼل شي او اجر، ثواب او له الهي جنت څخه برخمنې شي. اسلام ښځې د یوه داسې انسان په توګه ګڼي، چې کرامت او حرمت لري او د نارینه‌وو ټول حقونه او امتیازات ورسره شریک دي.

د اسلام له نظره، نارینه او ښځې د یوې ونې څانګې، د یوه پلار (آدم) او یوې مور (حواء) اولادونه دي او دواړه د یوه باغ ګلان دي. دا الهي دین یواځې تقوا، معنوي ارزښتونه او اخلاقي فضیلتونه د برترۍ معیار ګڼي. الله تعالی فرمایي: «يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُم مِّن ذَكَرٍ وَأُنثَى وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ» (قرآنکریم، سوره حجرات، آیت ۱۳)

**ژباړه:** «ای خلکو! موږ تاسو له یوه نارینه او یوې ښځې (آدم او حواء) پیدا کړي یاست او تاسو مو قومونه او قبایل ګرځولي یاست، چې یو بل وپېژنئ. بېشکه ستاسو تر منځ ډېر باعزته کس هغه دی، چې ډېره تقوا لري. الله ښه پوه دی او له ټولو حالاتو څخه خبر دی.»

حضرت محمد(صلی الله علیه وآله وسلم) د نارینه‌وو او ښځو د مقام برابري په ښکلي ډول بیان کړې ده: «إِنَّمَا النِّسَاءُ شَقَائِقُ الرِّجَالِ»

ژباړه: «ښځې د نارینه‌وو همتایانې دي.»

په دې حدیث شریف کې "شقایق" د "شقیق" جمعه ده، چې معنیٰ یې د یوه (کُل) یوه برخه ده، داسې چې له منځه په دوو برابرو برخو وېشل شوې وي. یعنې هره برخه د بله برخې بشپړونکې ده. (۴: ۱۵-۱۴)

د غافر سورې په ۴۰ آیت کې الله تعالی په څرګنده فرمایي: «هر هغه نارینه یا ښځه، چې څخه نېک عمل وکړي او ایمان ولري، جنت ته به داخل شي.»

په همدې ډول، د نحل سورې په ۹۷ آیت کې فرمایي: «هر هغه څوک چې نیک عمل وکړي، که نارینه وي که ښځه او ایمان ولري، موږ به هغه ته پاک او آرام ژوند ورکړو او غوره اجر به ورکړو.»

په دې ښکاره قرآني لارښوونو سره هېڅ ځای د غلطو تعبیرونو لپاره نه پاتې کېږي.

په اسراء سورت کې انسان د الله تعالی له ټولو مخلوقاتو غوره ګڼل شوی دی او په دې کې هیڅ ډول جنسي توپیر ندی څرګند شوی. انسان یو الهي مخلوق دی، چې عقل او شعور یې یو ځای ورکړل شوی دی.

د احزاب سورت په ۳۵ آیت کې نارینه او ښځې د مسلمان، مؤمن، مطیع، رښتوني، صابر، عاجز، لګښت کوونکي، روژه نیونکي، پاکلمني او د الله ذکر کوونکي په توګه یاد شوي دي. هغه کسان چې دغه ځانګړتیاوې ولري، د الله د مغفرت او ستر اجر مستحق به شي.

په دې توګه په اسلام کې هېڅ ډول جنسي ځانګړتیا د معنوي مقام او د الله د مغفرت او اجر د ترلاسه کولو لپاره شرط نده ګرځېدلې.

د پورته وضاحتونو په نظر کې نیولو سره په ښکاره ویلی شو، چې کله اسلام راغی، د نړۍ حالت د ښځو په اړه ډېر ناوړه

و. اسلام ښځې د بې عدالتيو له بار لاندې آزادې کړې او هغوی ته يې هغه مقام ورکړ، چې هېڅ تمدن نه و ورکړی. د اسلام په ظهور سره، د رسول اکرم (صلی الله عليه وآله وسلم) د هڅو په برکت، د ښځو پر وړاندې ټول منفي ليدلوري او سپکاوي پای ته ورسېدل.

اسلام د ښځې شخصيت ته درناوی وکړ او هغې ته يې له ذلت څخه عزت ورکړ. په اسلامي فکر او عمل کې، ښځه د نارينه‌وو په څېر د مساوي حيثيت او مقام لرونکې ده.

په اسلامي ټولنيز سېستم کې ښځې او نارينه د انساني نسل د بشپړتيا مساوي بنسټونه دي. د اسلام له نظره، ښځې په ټولنه کې بېلابېل مسووليتونه لري، چې يو له مهمو مسووليتونو يې په اقتصادي ډګر کې ونډه اخيستل دي.

د کار او استخدام حق د اقتصاد د پياوړتيا يوه مهمه برخه ده، چې د نارينه‌وو او ښځو دواړو لپاره اړين دی. په دې اړه به په راتلونکې برخه کې د اسلام له نظره د ښځو د کار حق وڅېړو.

## لومړی څپرکی؛ د اسلام له نظره د ښځو د کار او استخدام حق

د ښځو اقتصادي حقونه هغه ورتياوې دي، چې د ښځو اقتصادي چلند په توليد، وېش او مصرف کې تنظيموي؛ د ښځو اقتصادي چلندونه په طبيعي منابعو ګټه اخيستنه، کار او استخدام، مالکيت او نورو اړوندو چارو کې شاملېږي. د ښځو استخدام د هغو موضوعاتو له ډلې څخه دی، چې د ښځو او نارينه‌وو د حقونو د برابرۍ په چوکاټ کې تل د بحث او پاملرنې وړ ګرځېدلی دی. د اسلام له نظره، د ښځو استخدام او اقتصادي فعاليت جواز لري؛ اسلام ښځو ته اجازه ورکوي، چې د کورنۍ يا ټولنې اړتيا په صورت کې له کوره بهر د هغو کارونو ترسره کولو ته مخه کړي، چې د دوی له فطرت او جسمي او رواني جوړښت سره سمون ولري. دغه کار بايد د ديني او اخلاقي اصولو په رڼا کې ترسره شي او د دوی کرامت، شخصيت او د کورنۍ حيثيت په بشپړ ډول خوندي وساتل شي.

د ښځو د کار او استخدام په اړه په قرآن او حديثونو کې ډېرې ځرګندې لارښوونې شته دي، چې هره يوه يې د ژور فکر وړ ده. لاندې به د دې موضوع د لا روښانتيا لپاره ځينې آيتونه او احاديث وړاندې کړو؛

قرآن کريم په ښکاره ډول ټول انسانانو ته خطاب کوي او وايي: «وَأَنْ لَيْسَ لِلْإِنْسَانِ إِلَّا مَا سَعَى» (قرآنکريم آيت ۳۹ سوره نجم)

**ژباړه:** «د انسان برخه يواځې هغه څه ده، چې د خپلې هڅې، کوښښ، کار او زحمت له لارې يې ترلاسه کړې وي.»

د دې مبارک آيت خطاب ټولو انسانانو ته دی، ښځو او نارينه‌وو ته په ګډه، چې ټول د هڅې او کوښښ کولو ته هڅوي. دا بيان کوي، چې د هر انسان اجر د هغه د هڅې او کار پر اندازه پورې تړاو لري. بناءً ښځه او نر دواړه حق لري، چې کار او هڅه وکړي، چې حلاله ګټه ترلاسه کړي. (۲:۴۷)

خدای پاک په قرآن کريم کې د ښځو اقتصادي فعاليت او کسب او کار تاييد کړی دی او د هغوی پر شتمنۍ د مالکيت حق يې په رسميت پېژندلی دی. په سورة نساء کې الله(ج) د ښځو د استخدام اجازه په ښکاره ډول ځرګنده کړې ده او فرمايي: «لِّلرِّجَالِ نَصِيبٌ مِّمَّا اكْتَسَبُواْ وَلِلنِّسَاءِ نَصِيبٌ مِّمَّا اكْتَسَبْنَ وَاسْئَلُواْ اللَّهَ مِنْ فَضْلِهِ إِنَّ اللَّهَ كَانَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمًا»

**ژباړه:** «د نارينه‌وو لپاره له هغه څه برخه ده، چې دوی ګټلې دي او د ښځو لپاره له هغه څه برخه ده چې دوی ګټلې دي. له الله څخه د هغه د فضل غوښتنه وکړئ، بېشکه الله په هر څه ښه پوه دی.»

په دې مبارک آيت کې د "نصيب" کلمه د ښځې او نر لپاره ذکر شوې ده، چې ځرګندوي ښځه او نر د مشروع کسب او کار له لارې د ترلاسه کړې ګټې په تصرف کې حق لري. په همدې توګه، د "کسب" کلمه د ښځې او نر دواړو لپاره ذکر شوې ده، چې ښيي نر او ښځه دواړه د کسب او کار حق لري؛ ځکه پرته له کار او هڅې هېڅ نه ترلاسه کېږي. دا آيت د ښځې او نر د کار د پايلې پر مالکيت د حق تصديق کوي او الله تعالی په ځرګند ډول ښځو ته د کار او استخدام اجازه ورکوي. (۹:۴۷-۴۶)

په بل آيت کې الله(ج) فرمايي: «فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيمَا فَعَلْنَ فِي أَنْفُسِهِنَّ بِالْمَعْرُوفِ»

**ژباړه:** «په هغو کارونو کې پر تاسو هېڅ ګناه نشته، چې ښځې يې د خپل ځان لپاره په معقول او منل شوي ډول ترسره کوي.»

د دغه آيت اطلاق او عموم د شغل غوره کول هم رانغاړي؛ يعنې که ښځې وغواړي چې پخپل ژوند کې، په هغه برخه

کې چې د نورو حقوقو ترسره کولو مانع نه شي، اقتصادي یا ټولنیز فعالیت وکړي، د قرآن د لارښوونو له مخې هېڅ ستونزه نشته. شرط دا دی، چې د دې فعالیتونو بنسټ د عقلاني اصولو، د ټولنې د منل شوو ارزښتونو او د کورنۍ حیثیت او ګډ ژوند له مسوولیتونو سره په ټکر کې نه وي. (۱۴:۴-۵)

تاریخ ښیي، چې د رسول الله(صلی الله علیه وآله وسلم) په وخت کې ډېرو ښځو اقتصادي او ټولنیزو فعالیتونو کې برخه اخیسته او نه یواځې دا چې رسول الله(صلی الله علیه وآله وسلم) دوی نه منعه کولې، بلکې ځینې وخت یې لارښوونه هم ورته کوله. د بېلګې په توګه، زینب بنت جحش د لاسي صنایعو په تولید بوخته وه، یا زینب نومې ښځه د بني داوود قبیلې یوه ډاکتره وه. حضرت خدیجه(رضی الله عنها)، چې د لوړ مقام او درناوي وړ ښځه وه، یوه شتمنه سوداګره وه او په تجارت کې بوخته وه. رسول الله(صلی الله علیه وسلم) هم د یوې مودې لپاره د هغې له خوا تجارت کاوه.

په یوه روایت کې راغلي دي، چې رسول الله(صلی الله علیه وآله وسلم) ځوانو ښځو ته اجازه ورکوله، چې د اختر په ورځو کې له خپلو کورونو ووځي او د اړتیا وړ شیان وپلوري. حولاء، چې یوه عطرفروشه ښځه وه، رسول الله (صلی الله علیه وآله وسلم) ورته وویل: «کله چې عطر پلورې، سالم جنس په مناسب قیمت خلکو ته ورکړه او هېڅکله په جنس کې خیانت مکوه؛ ځکه پاکه معامله ډېره برکتي وي.» سمراء بنت نهیک د هغو ښځو له ډلې وه، چې په بازار کې د امر بالمعروف او نهي عن المنکر مسوولیت یې پر غاړه درلود. همدارنګه، د رسول الله (صلی الله علیه وآله وسلم) په غزاوو کې تل یو شمېر ښځې موجودې وې، چې د زخمیانو لپاره د اوبو برابرولو او د هغوی د درملنې چارې یې ترسره کولې، لکه لیلی غفاري، چې په جګړو کې یې د ټپیانو پالنه او درملنه کوله. ام عطیه او ام سلمه هم په بېلابېلو غزاوو کې برخه اخیستې او د زخمیانو پالنه یې کوله. (۱۴:۱۵-۱۰)

حضرت عمر(رضي الله عنه) د خپل خلافت پر مهال د بازار تنظیمولو مسوولیت یوې ښځې شفاء بنت عبدالله عدویه ته وسپاره. د دغو مسوولیتونو له سپارلو څخه څرګندېږي، چې په اسلام کې د ښځو لپاره له کور څخه بهر د کار کولو اجازه شته او دا چې د رسول الله(صلی الله علیه وآله وسلم) او خلفای راشدینو په عصر کې د ښځو پر وړتیاوو او استعداد باندې لوړ اعتماد موجود و. (۱۱: ۳-۲)

هغه مسلکونه چې پورته ذکر شول، په دې معنیٰ نه دي، چې ښځې یواځې په همدې برخو کې د خدمت مصدر ګرځېدی شي، بلکې دا څرګندوي، چې رسول اکرم(صلی الله علیه وآله وسلم) د ښځو له کار کولو څخه د اقتصادي چارو د پراختیا او پانګونې په موخه ملاتړ کړی او دا یې د اسلامي ټولنې لپاره ګټور بللي دي. له پورته تحلیل څخه داسې څرګندېږي، چې په اسلامي تعلیماتو کې د ښځو د استخدام لپاره هېڅ منعه نشته. په شریعت کې د ښځو د کار کولو جواز په دې شرط دی، چې کار یې حلال وي او له خپلې هڅې څخه حلاله ګټه ترلاسه کړي. په هر حال، اسلام د ښځو د کار لپاره یو لړ شرایط ټاکلي دي، چې لاندې به په لنډ ډول بیان شي.

## دوهیم څپرکی: د اسلام له نظره د ښځو د کار لپاره شرایط او الزامات

اسلام د طبیعت د ژوند په اصل ولاړ دی او کار کول د ښځو لپاره د یوه حق په توګه په رسمیت پېژني. په همدې حال کې اسلام د ښځو او نارینه‌وو د مالي خپلواکۍ، عفت او حجاب، د ښځو د کورنۍ په چوکاټ کې د شتون اهمیت او د ښځو او نارینه‌وو د حقونو برابري او د هغوی د حقوقو په توپیر باندې ټینګار کوي. په اسلام کې داسې ځینې محدودیتونه شته، چې د کار په وخت کې ښځې او نارینه دواړه باید ورته پام وکړي. دا محدودیتونه د ښځې یا نارینه له جنسیت سره تړاو نلري، بلکې باید په عمومي ډول په ټولو اقتصادي فعالیتونو کې مراعت شي.

دغه محدودیتونه په لاندې څلورو برخو وېشل شوي دي:

**۱. ټولنیز مصلحت:** باید دا وڅېړل شي، چې په ټولنه کې د دغه کار د ترسره کولو لپاره د ښځې یا نارینه ګومارنه څه ګټه او مصلحت لري او آیا دا کار د ټولنې د سترو ګټو لپاره آغېزناک دی که نه؟

**۲. کورنۍ مصلحت:** لکه څنګه چې کورنۍ په اسلام کې یو اساسي اصل دی، د ښځو لپاره د کار ټاکلو پر مهال باید د کورنۍ مصلحت او د کورني بنسټونو پیاوړتیا د اسلامي شریعت په رڼا کې په پام کې ونیول شي.

**۳. فردي مصلحت:** په دې معنیٰ چې ښځه یا نارینه د دغه

کار د ترسره کولو لپاره څه ډول وړتیاوې او شایستګي لري او آیا دا کار د هغوی لپاره مناسب دی؟

**۴. د امکاناتو او وړتیاوو مصلحت:** باید ارزونه وشي، چې کوم شخص د دې کار د ترسره کولو لپاره ډېره وړتیا لري او غوره یې ترسره کولی شي. (۲: ۳۰-۲۹)

د ښځو لپاره د کور څخه بهر کار کولو یو لړ ځانګړي شرایط لري، چې رعایت یې اړین دی:

**الف.** هغه کار چې ښځه یې ترسره کوي، په ذاتي ډول باید مشروع او له اسلامي شریعت سره سمون ولري، یعنې کار باید حرام نه وي او نه دې د حرامو اعمالو د ترسره کولو سبب شي؛ لکه د مجرد نارینه لپاره د خدمت کارونه یا هغه کارونه چې له نامحرمو نارینه‌وو سره په یواځیتوب کې ترسره کېږي.

**ب.** ښځه باید له کور څخه د وتلو پر مهال د خپل لباس، لارې تګ، خبرو کولو او نورو حرکاتو په اړه پوره پام وکړي او حجاب او اسلامي آداب مراعت کړي.

**ج.** ښځه باید له کور څخه د وتلو پر مهال خپل وقار او حیثیت وساتي، له خوشبویه عطرونو څخه ډډه وکړي او له زینت او سینګار څخه ځان وساتي.

**د.** د ښځې کار باید د هغې په اصلي مسوولیت، یعنې د کورنۍ د نظام په ساتنه کې، کومه ګډوډي رامنځته نکړي.

**هـ.** ښځه باید له هغو سختو او فیزیکي درنو کارونو څخه ډډه وکړي، چې د ترسره کولو وړتیا یې ونلري. (۴: ٦۴-٦۳)

## دوهیم مبحث: د ښځو دریځ د لیبرالېزم له نظره

د اروپایي ژبو "لیبرال" کلمه له لاتیني کلمې "libber"[۱] اخیستل شوې ده؛ خو لیبرالېزم د یوه سیاسي مبحث په توګه د دولت په خصوصي برخه کې د محدودیت پر اصل ولاړ دی او انسان د یوه مختار موجود په توګه پېژني، چې د خپلې آزادۍ او نظریاتو له مخې ژوند کولی شي. د دغه سیاسي او ټولنیز مکتب معنوي ریښې د انسان محوري، عقلانیت، تجربوي تفکر او روښانتیا په مفکورو کې په اوولسمه او اتلسمه پېړۍ کې ټینګې شوې دي. د لیبرالېزم عمومي قاعده د انسان ذات ته خوشبیني ده او د دې واحد شعار په اقتصادي، سیاسي او ټولنیزو برخو کې «آزادي، مساوات او ورورولي» ګڼل کېږي. لیبرالېزم د یوې ټولنیزې فلسفې په توګه د وخت په تېرېدو بېلابېل شکلونه غوره کړي دي او کله ناکله د یوې ځانګړې زمانې د بېلابېلو مفکرینو شتون د لیبرالېزم په اړه مختلف برداشتونه رامنځته کړي دي. له همدې امله ویل کېدی شي، چې لیبرالېزم د یوه مکتب یا نظریې په توګه بېلابېلې او مختلفې څانګې لري.

په همدې اساس، لیبرالېزم د ښځو په مسلو کې بې تفاوته پاتې شوی ندی او فېمېنېزم د لیبرالېزم یو ستره لاسته راوړنه ګڼل کېدی شي؛ ځکه د لیبرالېزم مهم شعارونه په منطقي ډول د ښځو لپاره هم دي. که چېرې لیبرالېزم د هغو بدلونونو پایله وګڼو، چې له رنسانس څخه تر روښانتیا پورې یې دوام درلود، نو فېمېنېزم هغه ناهیلې پایله ګڼل کېدی شي، چې د لیبرالېزم ارزښتونه یې د ښځو ټولنې ته غځول غوښتل. په همدې اساس د لیبرالېزم فېمېنیسټ غوښتنې د اوولسمې او اتلسمې پېړۍ په انقلابونو کې مطرح شوې غوښتنې دي، چې پکې آزادي، مساوات، عقلانیت، تعلیم، فردیت او د مذهبي واکمنۍ او ټولنیز استبداد پر وړاندې مبارزه شامله وه. (۱۵: ۴-۳)

له دې مقدمې وروسته، ویلی شو چې لیبرالېزم د دغه فکري مکتب پر اساسي اصولو ولاړ دی، چې د انسان په اړه، په ځانګړي ډول د ښځو او کار د څو اړخیزې ټولنیزې او اقتصادي مسلې په اړه خپل نظریات وړاندې کوي. د ښځو د کار په اړه د لیبرالېزم مفکوره د «انسان محوري» پر مرکزي مفهوم او د دې مفکورې د نظامي معاني په شاوخوا کې راڅرخي، چې پکې دا بنسټي ټکي شامل دي؛ «د ښځې انفرادي حقوقو ته د کورنۍ له حقوقو څخه لومړیتوب ورکول؛ د کار په برخه کې رضایت او قانوني تړون؛ د کار په حقوقو او فرصتونو کې مساوات؛ د خصوصي برخې په اړه د دولت د مداخلې محدودیت پر بنسټ د بازار نظام او د ښځې د انفرادي اړیکو د آزادۍ حق» لیبرالېزم په د کار په بازار کې د ښځو د ټیټې درجې منتقد دی؛ هغه درجه چې د ټولنیزو سېسټمونو له امله د کور په چارو کې د ښځې د ټیټې درجې او د نارینه په اطاعت کې د هغې د موقعیت پایله ده. د لیبرالېزم مکتب د مساوي حقونو پر ټینګار باور لري، چې د ښځو انساني پانګه او استعداد د هغو فرصتونو پایله ده، چې د هغوی د وړتیا لوړولو لپاره ورته برابرېږي. که داسې فرصتونه موجود وي، د ښځو ذات به له نارینه‌وو سره برابر څرګند شي او هغوی به هم له کار څخه خوند واخلي. له

[۱] . د آزاد او وړ په معنیٰ؛ آزاد یا وړ انسان

همدې امله د لیبرالېزم مبحث پر انسان محوري یا د ښځې پر ځانبسیاینې ولاړ دی. (۱۵: ٦)
په لنډ ډول ویلی شو، چې د ښځو په اړه د لیبرالېزم نظر داسې دی، چې د دې نظرېې پر بنسټ، د ښځو انفرادي ګټې د نورو دندو، لکه د مور او مېرمنې رول، پر وړاندې لومړیتوب لري. دولت باید د ښځو د کار په برخه کې د بازار نظام فعال کړي او بشپړه بې طرفي غوره کړي. د بازار نظام پر بنسټ، ښځه او نارینه د یوه بل پر وړاندې ځای پر ځای کېږي او دا د ښځو د ځرګندېدو لپاره ډېره ښه ده، چې په ټولنیزو، سیاسي، اقتصادي او تعلیمي امتیازاتو ترلاسه کولو کې آغېزناک دی. د دې نظرېې له مخې، ښځې له سیالۍ منعه کول، د ښځو په حق کې یو ستر ظلم دی او ټولنې ته یو نه جبرانېدونکی زیان اړوي.

## لومړۍ برخه: د لیبرالېزم له نظره د ښځو د کار اصول

هغه اصول چې لیبرالېزم د ښځو د کار په اړه بیانوي، د دې مرکز انسان محوري او د ښځې ځان بسیاینه تشکیلوي. دا په دې معنیٰ چې له هغو ټولو فیزیکي او بدني ځانګړتیاوو پرته چې ښځې او نارینه یې د یوه بل پر وړاندې لري، لیبرالېزم ښځه د انسان په توګه پرته له کوم توپیر او تبعیض فرضوي او د ښځو د کار لپاره لاندې اصول وړاندې کوي؛

- د ښځې انفرادي حقوقو ته د کورنۍ له حقوقو څخه لومړیتوب ورکول
- د کار په برخه کې رضایت او قانوني تړون
- د کار په حقوقو او فرصتونو کې مساوات
- د خصوصي برخې په اړه د دولت د مداخلې محدودیت پر بنسټ د بازار نظام
- د ښځې د انفرادي اړیکو د آزادۍ حق

د لیبرالېزم نظرېې له مخې، ښځې په کاري او اقتصادي برخو کې په بشپړه توګه آزادې دي او کولی شي، پرته له کوم محدودیت څخه د خپلو هېوادونو د اقتصادي ځان بسیاینې لپاره په ټولنه کې فعالیت وکړي. د دې نظرېې له مخې د ښځو کار له هر ډول قید او بند څخه آزاد دی او د نارینهوو په پرتله له هر ډول تبعیض څخه پاک دی. ښځې کولی شي کار وکړي او پخپل انتخاب کې آزادې دي او د دوی فردیت ته ارزښت ورکړل شوی دی. دا د دوی خپله پرېکړه ده، چې آیا د خپلو کورنیو په چوکاټ کې فعالیت غوره کوي او که په اقتصادي برخه کې، یا دواړه؟ دا په دې معنیٰ چې ښځې پخپل انتخاب کې مختارې دي او هېڅ ډول قانون او قاعده نشي کولی، چې د هغوی مخه ونیسي. ښځه د یوې مېرمنې په توګه مختاره ده، چې کومه دنده انتخابوي او چېرته کار کوي او په ورته توګه د یوې مور په توګه هم مختاره ده، چې له خپل ماشوم سره پاتې شي، یا د هغه پالنه بل چا ته وسپاري او خپله دنده په لومړیتوب کې ونیسي. په همدې ډول، د اقتصادي فعالیتونو په ترسره کولو کې له هېچا د اجازې اخیستلو اړتیا نلري او خپله دنده او د هغې پرمختګ اداره کولی شي. ټولنه هم د دې پر وړاندې مسووله ده، چې ورته د نارینهوو په څېر برابر کاري شرایط برابر کړي او په ورته توګه دولت حق نلري، چې د هغې په خصوصي فعالیتونو کې مداخله وکړي او سخت قوانین وضعه کړي. (۸:۱۵)

## پایله

کار کول د ښځو په اړه یوه له مهمو مسلو څخه ګڼل کېدی شي. نن ورځ د ښځو کاري فعالیت د ټولنې یوه مطرحه موضوع ده؛ د کار کولو هدف هغه مسلک یا دنده ده، چې په بدل کې یې شخص حق او معاش ترلاسه کوي. د ښځو کار کولو بڼه د ټولنو له پرمختګ سره بدله شوې او ښځې یې له دودیزو دندو څخه صنعتي برخو ته اړولې دي. د نارینهوو او ښځو ترمنځ د بدني او فکري وړتیاوو د نابرابرۍ په اړه باور د دې سبب شوی، چې د ډېرو دندو دروازې د ښځو پر مخ وتړل شي. ښځې د ټولنې د یوې مهمې برخې په توګه د اقتصادي پرمختګ او د هېوادونو د ځان بسیاینې په برخه کې ځانګړی رول لري او کولی شي له خپلو استعدادونو او وړتیاوو څخه په ګټه اخیستنې سره ټولنه د اقتصادي ځان بسیاینې پر لور بوځي. په ځانګړي ډول په هغو ټولنو کې چې د پرمختګ په حال کې دي، لکه افغانستان، د ښځو د اقتصادي چارو په ځرګندولو او په بېلابېلو برخو کې د هغوی د کار کولو په زمینه برابرولو سره کولی شو، د هېواد د پرمختګ بهیر چټک کړو؛ خو په افغانستان کې د ښځو د کار کولو په اړه د بېلابېلو نظریاتو موجودیت د ټولنې د دې مهم قشر پر وړاندې یوه جدي ستونزه ګرځېدلې ده؛ هغه ستونزه چې د دغې جغرافیې په دننه کې د ښځو د کار کولو

مخه نیسي.
مهمه خبره دا ده، چې ډېری خلک فکر کوي د ښځو د کار کولو لپاره د ديني ممانعت ستونزه شته او ښځې د ديني لارښوونو له مخې کار نشي کولی، په داسې حال کې چې دا فکر سم ندی. سپېڅلي دين اسلام ښځې ته د کار په برخه کې ځانګړې ځای ورکړی دی او نه یواځې دا چې ښځې یې له کار کولو منعه کړې ندي، بلکې ښځې او نارينه يې د حلال رزق د ترلاسه کولو لپاره کار کولو ته هڅولې هم دي.
په قرآنکريم کې ښځه او نارينه مساوي حقونه لري او د یوه په بل باندې توپير د هغوی د برترۍ سبب نه ګرځي. دواړه د انساني ځانګړتياوو لرونکې دي او د ځمکې پر مخ د الله تعالی خليفه ګڼل کېږي. د الله تعالی په نزد د برترۍ معيار تقوا ده او هر څوک چې ډېره تقوا ولري، هغه غوره دی، که ښځه وي يا نارينه. په دې موضوع کې د ښځو د کار کولو د منعه لپاره تبعيض لرونکی نظر هېڅ د اسلام اړوند ندی، بلکې دا د مغرضو اشخاصو د شخصي برداشتونو او ذهني وړاندوینو پایله ده. په قرآنکريم کې ګڼ شمېر آيتونه شته، چې ټول مومنان د حلال رزق د ترلاسه کولو لپاره د کار کولو هڅونې او تشويق په اړه مخاطب کړي دي. د قرآنکريم د بېلابېلو آيتونو په استناد، لکه د نساء سورت ۳۲ او ۷ آيتونه، ښځه درنښت لري. همدارنګه د نساء سورت د ۳۲ آيت، د نجم سورت د ۳۹ آيت او د بقرې سورت د ۲۳۴ آيت تفسيرو ته په استناد، د ښځو د کار کولو جواز استخراج کېدی شي.
په همدې ډول، هغه ښځې لکه خديجه الکبری، زينب بنت حجش، حولاء، سمراء، امسلمه، ام عطيه او نورې مشهورې ښځې د حضرت محمد (صلی الله عليه وآله وسلم) په زمانه کې اقتصادي فعاليتونه ترسره کول، چې دا پخپله زموږ د ستر پېغمبر د ښځو د کار کولو موضوع تاييد څرګندوي. د خلفای راشدينو په زمانه کې هم ښځو لکه شفاء د اسلام تر سيوري لاندې اقتصادي فعاليتونه ترسره کول، چې دا د ښځو د کار کولو په اړه د اسلام مثبت نظر ښيي.
سپېڅلی دين اسلام د ښځو له کار سره هېڅ ډول ټکر نلري، بلکې هغوی ته د حلال رزق د ترلاسه کولو بلنه ورکوي او د ښځو لپاره يې د کار کولو جواز ورکړی دی. اسلام ښځو ته اجازه ورکوي، چې د اسلامي ارزښتونو په ساتلو سره له کور څخه بهر کار وکړي؛ ځکه لکه څنګه چې د هېوادونو د پرمختګ او غوړېدو لپاره د نارينه‌وو شتون اړين دی، همدارنګه د ښځو ګډون په ټولو برخو کې د ټولنو د پرمختګ سبب ګرځي. له اسلامي نظره، کار کول د ښځو لپاره يو طبيعي حق ګڼل کېږي؛ خو په دې شرط چې کار د کورنۍ د اړيکو د ګډوډېدو يا د سالم نسل د روزنې دنده له پامه ونه غورځوي. د ښځو ټولنيز ګډون، په ځانګړي ډول له کور څخه بهر کار کول، بايد د حجاب او عفت د اصولو مراعات، د هغوی د جسمي او روحي حالت په پام کې نيولو او د اسلامي ارزښتونو په چوکاټ کې وي.
د دې حقيقت په نظر کې نيولو سره، چې د ښځو د کار په اړه بېلابېل نظرياتي ليدلوري موجود دي، ليبرالېزم د یوه فکري مکتب په توګه، چې په نړۍ‌واله کچه ډېر پلويان لري، د ښځو د کار کولو په اړه خپل دريځ څرګند کړی دی. د دې مکتب له نظره، ښځې د ټولنې د یوې مهمې برخې په توګه ګڼل شوې دي، چې د نارينه‌وو په څېر په ټولو برخو، په ځانګړي ډول د کار په مسئله کې، لوړ مقام لري. لېبرالېزم د ښځو ځان بسیاینې ته د ارزښت په ورکولو سره ښځې د ټولنې نه بېلېدونکې برخه ګڼي، او استدلال کوي، چې ښځې د ټولنې نيمايي برخه جوړوي او د هغوی له ګډون پرته ټولنه فلج کېږي او اقتصادي رکود ته ځي. د دغه ليدلوري له مخې، ښځې د هر ډول کار په انتخاب کې پرته له کوم قيد او شرط څخه آزادې دي او په بازار کې د دولت له مداخلې پرته د نارينه‌وو په څېر د برابرو کاري فرصتونو حق لري. د لېبرالېزم نظريه ښځو ته په ټولو برخو کې د انتخاب حق ورکوي او هغوی په بشپړ ډول مختارې ګڼي؛ هېڅوک د هغوی لپاره دندو ټاکلو حق نلري.
دا آزادي تر دې حده ده، چې ښځې له محدوديت پرته په هره هغه برخه کې کار کولی شي، چې وغواړي. له دې ليدلوري، ويلی شو، چې ښځې په ټولو ټولنيزو او اقتصادي برخو کې د نارينه‌وو په څېر بشپړ مساوي مقام لري او هېڅ ډول توپير يا تفکيک د ښځو او نارينه‌وو ترمنځ نشته دی.
په دې اساس، دولت بايد د نارينه‌وو په څېر ښځو ته هم د فعاليت او کار کولو مساوي فرصتونه برابر کړي. همدارنګه ښځې بايد په بازار کې له نارينه‌وو سره سيالي وکړي او له هېڅ ډول مثبت تبعيض څخه برخمنې نه وي؛ بلکې هر ډول کار د هغوی لپاره بايد په مساوي توګه ترسره شي. د لېبرالېزم له نظره، د ښځو په کار کولو کې يو لړ اصول شته، چې عبارت دي له: د ښځې د انفرادي حقونو لومړيتوب پر

کورنیو حقونو؛ د کار په برخه کې رضایت او قانوني تړون؛ د کار په حقوقو او فرصتونو کې مساوات؛ د خصوصي برخې په اړه د دولت د مداخلې محدودیت پر بنسټ د بازار نظام او د ښځې د انفرادي اړیکو د آزادۍ حق.

هغه څه چې د اسلام او لیبرالېزم ترمنځ ګډ دي، دا دي، چې دواړه د ښځې درناوی کوي؛ انسان او په دې کې ښځه د درنښت وړ ګڼي او د هغوی لپاره یې حقونه او امتیازات په پام کې نیولي دي. خو هغه څه چې د دې دوو نظریو ترمنځ د ښځو د کار کولو په اړه توپیر رامنځته کوي، دا دي چې په لیبرالېزم کې ښځې په بشپړ ډول آزادې دي او هېڅ ډول قید او شرط نلري. په لیبرالېزم کې مادي ارزښتونه د ښځو د کار کولو په اړه ډېر ځانګړی ارزښت لري او د ښځو او نارینه‌وو ترمنځ د کار په برخه کې له توپیر منکر دي؛ خو اسلام د ښځو د کار کولو په اړه ټول اړخونه په نظر کې نیسي او یو واقعي، هر اړخیزه او متوازن نظر وړاندې کوي. اسلام ښځې دې ته اړ باسي، چې یو لړ شرایط مراعات کړي، چې د دغو شرایطو په چوکاټ کې د اطمینان په فضا کې اقتصادي فعالیتونه ترسره کړي.

## سرچينې


**الف. کتابونه**

۱. قرآنکریم

۲. د علماوو ټولنه، د ښځو چارې او د افغانستان د علومو اکاډمي، د اسلام او نړۍوالو اسنادو له مخې د ښځو حقوق، د مقالو ټولګه. کال ۱۳۹۷ل، دریم چاپ، ځای: کابل، انتشارات لمر.

۳. نعماني، عبدالعزیز. نظام اقتصادی اسلام. دوه‌یم چاپ، کال ۱۳۹۹ل، ناشر: انتشارات قدس.

۴. حنیف، عزیز احمد. حقوق و جایگاه زن در میزان فقه اسلامی. کابل: منی ۱۳۹۹ل، بینا.

۵. استانبولي-اشلبي، محمود مهدي- مصطفی ابوالنصر، ژباړن: شهربانو دلبري، زنان پیرامون پیامبر ص و نقد و بررسی ادعاهای خاورشناسان. ۱۳۹۴ل، لومړی چاپ، له عقیده سایټ څخه ډاونلوډ شوی.

۶. ابوعمار، محمود المصري، ژباړن: اسحاق دبیري، بانوان نمونه عصر پیامبر. ۱۳۹۴ل، لومړی چاپ، له عقیده سایټ څخه ډاونلوډ شوی.

۷. حسین، عقیله، ژباړن: خ.م، نقش زنان در بنای تمدن. له عقیده سایټ څخه ډاونلوډ شوی.

۸. سایت بیداری به کوشش وار اسلام، زن در اسلام. ۱۳۹۴ل، لومړی چاپ، له عقیده سایټ څخه ډاونلوډ شوی.

۹. حامد-بصیرت، مرتضی-عبدالولي. حقوق زن از نظر اسلام. ۱۳۹۵ل، د خالد صنعتي مطبعې چاپ.

۱۰.صمیم، عبدالمجید. افغانستان اسلام و دیموکراسی. ۱۳۸۱ل، د مطبعه آرین هرات چاپ.

**ب. رسالې او انټرنېټي مقالې**

۱۱. ترکمان- پري- پارسا- سرشار، مظفر- فروغ- مهرداد- مژگان، دیدگاه مفسران و قرآن پژوهان معاصر در باره اشتغال زنان. د ترلاسه کولو نېټه: ۱۳۹۹ل، علمي – څېړنیزه مهالنی.

http://jou.spsiran.ir/article_151264_999d4329e3c69b187e1ff9316302761d.pdf

۱۲. حسینی میرصفي- دیاني دردشتي، زهرا- فاطمه، مستندات قرآنی مفسران معاصر به موضوع اشتغال زنان. د ترلاسه کولو نېټه: ۱۳۹۹ل، د قرآن او حدیث په اړه څېړنیزه مجله، ۲۷ ګڼه.

http://pnmag.ir/article-1-1126-fa.pdf

۱۳. روشن، محمد، پیشیه تاریخی اشتغال زنان و جایگاه اشتغال در فقه.

https://www.olgou.ir/downloads/Ketab/ketab03/25.pdf

۱۴. نوري، اعظم، بررسی اشتغال زنان از دیدگاه اسلام. تاریخ: ۱۳۹۰ل، حوزه خبري آژانس، ۸۵ ګڼه.

https://noo.rs/us9kQ

۱۵. عبدالوهابي- روشنایي- احمدي- جمال آشتیاني، معصومه- علي- امید علي- حسین، بررسی چالشهای اشتغال بر اساس دیدگاه لیبرالیسم و اسلام. د ترلاسه کولو نېټه: ۱۳۹۸ل، د سیاسي مطالعاتو مهالنۍ، ۴۶ ګڼه.

https://jourm.azadshahr.iau.ir/article_672582_8a4b-62313fc91799321be05548917ab9.pdf

۱٦. سلیمانی، منصوره، اسلام و اشتغال زنان. پژوهشگاه علوم انسانی و مطالعات فرهنگی، فصلنامه مطالعات زنان و خانواده.

http://ensani.ir/file/download/article/20121212084721-9419-11.pdf

۱۷. قدیر، محسن، اشتغال زنان از منظر اسلام و غرب. دفتر مطالعات و تحقیقات زنان، سایت ویستا.
https://vista.ir/m/a/yl8d4/%D8%A7%D8%B4%D8%AA%D8%BA%D8%A7%D9%84-%D8%B2%D9%86%D8%A7%D9%86-%D8%A7%D8%B2-%D9%85%D9%86%D8%B8%D8%B1-%D8%A7%D8%B3%D9%84%D8%A7%D9%85-%D9%88-%D8%BA%D8%B1%D8%A8%E2%80%8F
۱۸. صداقت، قاسم علي، شرایط و محدودیتهای حق کار زنان از منظر فقه و حقوق. بلوگفا سایت.
https://vista.ir/m/a/yl8d4/%D8%A7%D8%B4%D8%AA%D8%BA%D8%A7%D9%84-%D8%B2%D9%86%D8%A7%D9%86-%D8%A7%D8%B2-%D9%85%D9%86%D8%B8%D8%B1-%D8%A7%D8%B3%D9%84%D8%A7%D9%85-%D9%88-%D8%BA%D8%B1%D8%A8%E2%80%8F
۱۹. بېنومه، لیبرالیسم چیست. اعتماد سایټ.
https://www.etemadonline.com/%D8%A8%D8%AE%D8%B4-%D8%A8%DB%8C%D9%86-%D8%A7%D9%84%D9%85%D9%84%D9%84-17/358104-%D9%84%DB%8C%D8%A8%D8%B1%D8%A7%D9%84%DB%8C%D8%B3%D9%85-%DA%86%DB%8C%D8%B3%D8%AA
۲۰. مظفري، آیت، تکریم انسان از منظر اسلام و لیبرالیسم. انسانپژوهی دینی سایټ.
http://raj.smc.ac.ir/article_2296.html





# په افغانستان کې د ښځو د رهبرۍ د نشتون دلایل

آریانا پارسي

**لنډیز**

په افغانستان کې د رهبرۍ په مقامونو کې د ښځو نشتون د ګڼو کلتوري، ټولنیزو او مذهبي دلیلونو له امله له جدي خنډونو سره مخ دی. د جنسیت اړوند کلیشې، چې د رهبرۍ ټولې ځانګړنې، لکه قاطع غږ، فیزیکي ځواک او رسمي ظاهري بڼه یواځې نارینه‌وو ته منسوبوي، ښځې یې له دې ډګر څخه لرې ساتلې دي. دا کلیشې د ځینو دیني مشرانو له محدودو تفسیرونو سره، چې د قرآن د آیتونو محدود مفهوم وړاندې کوي، په ګډه د ښځو د وړتیاوو یو ناعادلانه انځور وړاندې کوي. په ټولنیزو او سیاسي جوړښتونو کې د بنسټي مردسالارۍ، له تعصبه ډکو قوانینو، فکري او طبقاتي بېوزلي شتون او د ښځینه‌وو ته د زده‌کړې او مدیریت د فرصتونو نشتون د ښځو رهبرۍ ته جدي زیان اړولی دی.
دغه څېړنه څرګندوي چې جوړښتي، کلتوري او حقوقي عوامل، د زده‌کړې او مدیریت له محدودیتونو سره یو ځای، د ښځو لپاره لوی خنډونه ګڼل کېږي. له بلې خوا، د افغانستان د ټولنې دودیز لیدلوري، چې نارینه‌وو ته برتري طبیعي ګڼي، د دغه وضعیت په دوام کې مهم رول لري. د

دغو خنډونو د له منځه وړلو لپاره بایده ده، چې د تعصب پر بنسټ د رامنځته شویو قوانینو اصلاح وشي، مساوي زده‌کړیز او مدیریتي فرصتونه رامنځ ته شي او د ټولنیزو لیدلورو بدلون تر سره شي. دا ګامونه کولی شي د ښځو د رهبرۍ په آغېزناک ګډون او د موجودو کلیشو په ماتولو کې مرسته وکړي.

**کلیدي کلمې:** رهبري، ښځه، جنسیتي کلیشې، مردسالاري، دین، تعصب لرونکي قوانین، زده‌کړه، د افغانستان ټولنه

## سریزه

نن ورځ د افغانستان ښځې له زده‌کړې څخه، چې بنسټي حق یې دی، محرومې دي. سره له دې چې د ډیموکراسۍ له لسیزې راهیسې د ښځو د حقونو د اعادې لپاره ډېرې هڅې شوې دي؛ خو ښځې لا هم د دې هېواد تر ټولو محروم قشر ګڼل کېږي.

په اسلامي ټولنو کې د ښځو رهبري تل له ابهامونو او تضادونو سره مله پاتې شوې ده. د ښځو د رهبرۍ په اړه نظریات یو له بل سره په ټکر کې دي؛ له یوې خوا، د اسلام په اړه روڼ‌آندي او پرمختللي لیدونه او له بلې خوا، د اسلامي لارښوونو دودیز برداشتونه، چې دغه تضاد په اسلامي ټولنو کې د زاړه او نوي برداشت تر منځ پاراډوکس رامنځته کړی دی.

خو څه داسې عوامل دي، چې تر اوسه په افغانستان کې ښځې ندي رهبرې شوې؟ آیا د ښځو رهبري کولی شي، د دغه هېواد په ټولنیز پرمختګ او بدلانه کې رول ولوبوي؟

که څه هم د افغانستان د ښځو پر موضوعاتو خبرې نوې ندي او تل وربانديې بحث شوی دی؛ خو تر اوسه هېڅ لیکوال په مستقیم ډول د ښځو د رهبرۍ د نشتون پر دلایلو او په دغه لاره کې د پرتو خنډونو د لرې کولو پر لارو چارو بحث ندی کړی. له همدې امله، دا موضوع نوې ده.

په دې لیکنه کې هڅه شوې، چې د ترکیبي- توصیفي- تحلیلي او تبییني- څېړنیزو مېتودونو په کارولو، د کتابتونونو له سرچینو او د رسنیو له معلوماتو او مرکو څخه په ګټې اخیستنې، په افغانستان کې د ښځو د رهبرۍ د نشتون دلایل او په لاره کې یې د پرتو خنډونو د لرې کولو حل‌لارې وړاندې شي.

د افغانستان ښځې د لویو شاعرانو لپاره الهام بښونکې او د تر ټولو عاطفي ادبي ډلو غړې پاتې شوې دي. په اسطورو او د اوستا په کیسو کې ځینې ښځې خدایانې بلل شوې دي، لکه اناهیتا (د نمو الهه) او چیتا (د پوهې الهه).

د دغه هېواد په تاریخ کې ځینې نوموتې ښځې رابعه بلخي، خُره ختلي (د سلطان محمود غزنوي خور)، حره جلالي (د بامیانو د واکمن شمس‌الدین محمد بن ملک مسعود مېرمنه)، سلطان راضیه د سلطان التمش لور او نورې نوموتې ښځې دي.(محمود، ۱۳۹۳ل)

حلیمه خټک (۱۰۶۵س)، ګوهر شاد بېګم (۷۸۵س)، نازو انا (۱۰۶۱س)، زرغونه انا (د احمدشاه بابا مور)، مېرمن زینب، مجاهده عایشه درانۍ، ملالې د میوند جګړې فاتحه، مخفي بدخشي او نورې پیاوړې ښځې د خپلو سیمو واکمنې پاتې شوې دي.

که څه هم د ښځې د رهبرۍ مفهوم پراخ دی او د سیاسي رهبرۍ تر څنګ د دیني او مذهبي رهبرۍ برخې هم رانغاړي؛ خو دلته زموږ بحث د ښځې د سیاسي ځواک ترلاسه کولو او په ټولنه کې د لوړو سیاسي مقامونو د ترلاسه کولو په اړه دی.

ګڼ عوامل شته دي، چې د دې مخه نیسي، چې ښځې لوړو پوړیو ته ورسېږي؛ په دا ډول عواملو دې کې اسطوروي روایتونه، فرضیې او بېلابېل پړاوونه شامل دي، چې اوس به یې وڅېړو.

## فردي عوامل

**جنسي او فزیکي عامل:** په پخوانیو او بدوي ټولنو کې، چې سېستماټیک علوم موجود نه وو، ارزښتونه او د مشرۍ معیارونه بېلابېل وو او وسایلو یې هم ډېر ډولونه درلودل. د مشر د ټاکلو معیارونه یې غښتلی جسامت، لوړ آواز او فیزیکي ځواک وو. مشرانو به د فتوحاتو او لښکرکشیو لپاره دغو ځانګړتیاوو ته اړتیا لرله. ښځې د نرم آواز، نازک بدن او د حمل درلودو له امله له دغو امتیازونو بې برخې پاتې شوې. دا موضوع په تدریج سره په یوه بې سرحده کلیشه بدله شوه. انسان لا هم د دغو زړو معیارونو تر آغېز لاندې دی.

**د خطر نه منل:** ښځې عموماً خطر نه مني او له هغو چارو ډډه کوي، چې مخکې یې نه وي تجربه کړې او د داسې چارو له ترسره کولو څخه وېره لري.

**انعطاف پذيري:** ښځې له واده کولو او مور کېدو وروسته خپلې غوښتنې ځنډوي او د موجوده حالت منلو ته اړ کېږي.
د اړيکو مهارتونه: ښځې په عموم کې گوښه ژوند غوره کوي او د غير رسمي اړيکو له شبکو محرومې دي. د ټولنيزو پرېکړو په چارو او د محرم او نامحرم موضوعاتو کې د فعال گډون نه لرلو له امله، په ټولنه کې پراخې اړيکې نشي جوړولی، په ځانگړې توگه له نارينهوو سره.

## ټولنيز عوامل

**تاريخي عامل:** د ښځينهوو د رهبرۍ لپاره د الگو نشتون، چې ښځو ته لارښوونه وکړي، په افغانستان کې د ښځو لپاره په يوه طنز بدل شوی دی؛ لکه يوه مشهوره خبره ده، چې: «اې! تر اوسه کومه ښځه مشره شوې ده، چې ته به شې؟» د دا ډول طنزونو يوه بېلگه ده.
**کورنی عامل:** له پخوا راهيسې د کورنۍ د لگښتونو د پوره کولو لپاره ځواکمنو متو ته د اړتيا له امله، کورنۍ د زوی په پيدا کېدو خوشحاله او د لور په پيدا کېدو خپه کېدې.
**کليشه‌يي عامل:** ښځې ناقص‌العقلې گڼل شوې دي او يواځې د نسل د توليد او د کورنۍ او ماشومانو د ساتنې مسوولې گڼل شوې دي. دنده ترسره کول له کورنيو مسووليتونو څخه د ښځې لرې کېدل گڼل کېږي. همدارنگه، ويل کېږي چې ښځې د کافي وړتيا نه لرلو له امله سختې او تخنيکي چارې نشي اداره کولی.
**مالي فقر:** هغه کورنۍ چې د خپلو ماشومانو د زده‌کړو لگښتونه نشي پوره کولی، مجبورېږي چې د لور او زوی د زده‌کړو ترمنځ، د زوی زده‌کړې غوره کړي؛ ځکه چې د کار بازار ورته مناسب دی.
**فکري فقر:** ښځې د دوه‌يم جنس په توگه پېژندل کېږي او په کورنيو کې د لومړيتوب حق نلري.
د زده‌کړو مرکزونو ته د لاسرسي نشتون: دا ستونزه د دې سبب شوې ده، چې نجونې د زده‌کړو ځايونو ته لاړې نشي.
**ټولنيزه بې نظمي:** په وروستيو کلونو کې، ښوونځي او کارځای ته د نجونو په لاره کې ناوړه اخلاقي او امنيتي پېښې رامنځته شوې، چې له امله يې کورنۍ مايوسه شوې دي.
**د نارينهوو جزايي مکافات:** د افغانستان ښځې له پخوا راهيسې د کورني تاوتريخوالي قرباني شوې دي. ورونو، کېدل، په نشه‌يي توکو روږدي کېدل، يا به هم عاشق کېدل؛ نو د کورنۍ لور به يې په بدل کې ورکوله. په داسې ټولنه کې له دا ډول شرايطو لاندې ودونه د ښځو د زده‌کړو لپاره ستر خنډ دی. پلرونو او حتیٰ نږدې خپلوانو که به څوک وژل، پوروړي
**طبقاتي هويت:** ښځې د دندې او مشخص ټولنيز هويت د نه لرلو له امله د خپلو ورونو، پلرونو او مېړونو په نامه پېژندل کېږي. د هغوی دنده د هغوی د ټولنيز طبقاتي حيثيت ټاکونکې ده.
**اقليمي او کليوال کلتور:** د ښاري بنسټونو نشتون، مناسبې لارې نه لرل، محدودې اقتصادي سرچينې او نور چاپېريالي عوامل د دې سبب شوي دي، چې د قبيلوي سېسټم واکمنی حتیٰ په ښارونو کې هم حاکمې وي. دا ټولنيز نظر او کلتوري پوهه، چې د ښځو هويتي - شخصي ارزښت پورې تړاو لري، په کلکه په پلارواکې او نارينه محوره ټولنه کې آغېزمنه شوې ده.

## مذهبي عوامل

**د ښځې په اړه د دوديزو فقهاوو نظر:** ښځه د ناقص‌العقلې، احساساتي او بې‌عقله موجود په توگه گڼل شوې ده؛ ځکه چې عقل په انساني کمال کې بنسټي رول لري؛ سنتي اسلامي علما او فقها د ښځې په بشپړ انسانيت باور نلري؛ حتیٰ د اسلامي فلسفي عالم ملا صدرا پخپل کتاب «اسفار» کې ښځه د چارپايانو او حيواناتو په توگه ياده کړې، چې انساني بڼه يې غوره کړې ده؛ خو دا چې له داسې چارپای څخه د ملا صدرا په څېر يو انسان پيدا شوی، د غور وړ خبره ده! په پخوا وختونو کې فقهاوو او مفسرينو ښځې ناقص‌العقله گڼلې او دا خبره په يوه ديني فرهنگ او دود بدله شوې وه. (آيا زن رهبر شده ميتواند؟؛ فياض ۱۳۸۳ل)
**مذهبي افراطيت:** د قرانکريم د آيتونو او د رسول الله(ص) د احاديثو د ژور فهم نشتوالی او د هغوی د عصري تطبيق محدود تفسير هغه څه دي، چې د ديني افراطيت سبب شوي دي. د بېلگې په توگه، دا ډلې د ښځو او نارينهوو د حقوقو برابري، د تلويزيون ليدل او له محرم پرته له کوره د ښځو وتل نه مني. (جوانان و روشنگری؛ بهشتي او همکاران يې ۲۰۲۰ز)
**په کور کې د ښځې د پاتې کېدو دليلونه:** د احزاب سورت د ۳۳ آيت ناسم او محدود تفسير د دې معنیٰ ورکوي، چې که ښځې له کوره بهر شي، د نارينهوو پام ځان ته اړوي او په دې توگه د اخلاقي فساد لامل گرځي.

**د ښځو د مشرۍ د ممانعت دلیلونه:** د نساء سورت د ۳۴ آیت محدود تفسیر. (حنیفی؛ حقوق و جایگاه زن در میزان فقه اسلامی، ۱۳۹۹ل)

**له مولوي ذبیح الله مجاهد سره مرکه:** مولوي ذبیح الله مجاهد، چې د افغانستان اسلامي امارت ویاند دی، پخپله مرکه کې وویل چې افغانستان یو اسلامي هېواد دی. د شرعي احکامو له مخې ښځه نشي کولی مشري وکړي؛ ځکه د ستر او حجاب، جګړې او سولې موضوعات پکې شامل دي، چې ښځې یې د ترسره کولو وړتیا نلري. (۸ سپټمبر، ۲۰۲۳ز)

**معارف:** په تعلیمي نظام کې نجونې پر نارینه‌توب او ښځینه‌توب باندې مسلطو ایډیالوژیو ته د تسلیمېدو درس اخلي او هغو ځانګو ته لاربښوونه کېږي، چې د دوی لپاره مناسبې ګڼل کېږي. (جامعه شناسی زنان؛ عراقی، ۱۳۸۰ل)

د ښوونځي له دورې څخه لا نجونو ته دا ذهنیت ورکول کېږي، چې یواځینۍ دندې، چې د دوی لپاره مناسبې دي، طبابت او ښوونه دي. د درسي نصاب الګوګانې ښځې یواځې د ښوونکې او ډاکترې په رولونو کې وړاندې کوي، ګواکې ښځې یواځې همدا دوه انتخابونه لري.

## قانوني عوامل

**اساسي قانون:** د افغانستان له اساسي قانون سره سره، چې د نارینه او ښځو د حقوقو برابري یې د اصل په توګه منلې ده، ځینو فرهنګي او ټولنیزو محدودیتونه په ځینو برخو کې پر قانون اغېز کړی دی.

**قانون د خلکو له عصري روحیې سره ندی برابر:** د شلمې پېړۍ په درېیمه لسیزه کې د تورکیې، ایران او افغانستان هېوادونه په اسلامي نړۍ کې د عصریتوب مثلث وګرځېدل. په افغانستان کې د دغه عصریتابه مشري د اماني دولت پر غاړه وه، چې د دغه پاچا فرمانونو په لنډه موده کې د ښځو ځای له ځمکې څخه اسمان ته لوړ کړ. د افغانستان نارینه‌محوره ټولنه د داسې بدلونونو منلو ته لا چمتو نه وه، چې دا چاره د سختو ټولنیزو غبرګونونو او د دغه پاچا د حکومت د نسکورېدو لامل وګرځېده. (واکاوی تاثیرات نوسازی... حمیدي او یوسفي۱۳۹۷ل)

**د قانون جوړوونکو لخوا د قانون نقض:** په تېرو دوو لسیزو کې سره له دې چې د قانون ملاتړ کوونکې اداري موجودې وې، بیا هم د مسوولو کسانو لخوا د قانون لسګونه سرغړونې ترسره شوې دي، چې پکې د چلند، جنسي او تعلیمي تاوتریخوالي پېښې شاملې دي. د بشري حقونو د خپلواک کمېسیون د ښځو د ملاتړ او پراختیا کمېشنر په وینا، پولیس او قاضیان د ښځو پر وړاندې تاوتریخوالي مشروع ګڼي او قانوني تعقیب یې نکوي. (ما وعده‌های جهان را داریم؛ مجله human right watch)

**پر ښځینه سیاسي فعالینو بریدونه:** په ۲۰۰۹ز کال کې د اپرېل په ۱۲مه، د بشر حقونو مدافع او د کندهار د سیمه‌ییزې شورا غړې ستاره اڅکزی ووژل شوه، چې عاملین یې هېڅکله ونه نیول شول.

## سیاسي عوامل

**د ختیځ افراطي ماډرنیت او کمونېستي حکومتونو پالیسۍ:** د غربي ماډرنیت د ارزونې او د هغه له دود سره د تطابق د کمزورو نظریاتو شتون. د بېلګې په توګه، په لویه جرګه کې د امان الله خان تر څنګ د ملکې ثریا بې حجابه ګډون د ښځو لپاره یو نوی بدلون و، چې د مخالفتونو پیلامه وه. (په تېرو سلو کلونو کې د ښځو د ژوند لوړې او ژورې؛ آزادي راډیو، ۱۴۰۰ل)

د ۲۰۰۹ز کال په مارچ کې، محافظه‌کاره مشرانو د «شیعه احوال شخصیه» قانون تصویب کړ، چې د ماشوم د حضانت حق یې انا ته ورکړ او ښځې یې له خپلو مېړونو پرته له کوره وتلو څخه منعه کړې. د ښځو سیاسي حقونه د سیاسي ملاتړ په بدل کې ورکړل شول، چې په ټاکنو کې یې ملاتړ وشي. (ما وعده‌های جهان را داریم؛ مجله human right watch)

**نور فرمانونه:** په ۱۹۹۳ز کال کې ښځو ته امر وشو، چې جذاب او داسې کالي وانه غوندي، چې بدن ترې ښکاري، عطر ونه کاروي، په لوړ آواز دې نه خاندي او په غرور سره دې نه ګرځي. له جګړې څخه د راټوکېدلي حکومت په لومړیو کې د داسې فرمانونو صادرول، د دغې خبرې ښکارندویي کوي، چې سیاستوال په افغانستان کې د ښځو موضوع ته څومره ارزښت ورکوي. (زنان، تاریخ و سیاست در افغانستان؛ نادري، ۱۳۹۸ل)

**په لوړو پوړیو کې د ښځو نشتوالی:** په لوړو پوړونو کې د ښځو نشتون دا ستونزه رامنځته کوي، چې که یوه ښځه ناکامه شي، نو بله ښځه دې ورته مقام ته ونه رسېږي. د بېلګې په توګه، د ۱۳۹۸ل کال د ولسمشرۍ ټاکنو مشرې، چې د اغلې حوا علم نورستانۍ په غاړه وه، د سترو درغلیو له امله د ټولنیزو رسنیو د انتقادونو ښکار شوه.

## حل‌لارې

د میل برات او کویل نظریې پر بنسټ، ګډون څلور مهم

عوامل لري: سياسي انګېزې، ټولنيز حالت، شخصي ځانګړتياوې او ټولنيزه فضا. (احمدي؛ بررسی وضعيت سياسی - اجتماعی زنان افغانستان، ۱۳۹۹ل)

په همدې اساس د دغو برخو او دين په رڼا کې د ښځو د رهبرۍ ستونزې د حل لپاره ګامونه پورته کېدی شي؛

۱. هڅه دې وشي، چې مسلمانې ښځې له داسې دودونو خلاصې شي، چې د هغوی د ودې او پوهاوي مخه نيسي او له دين سره هېڅ تړاو نلري.

۲. د ښځو د ځواکمنتيا لپاره دې په واکمنۍ کې د هغوی د شاملولو يو نوی بدلون رامنځته شي.

۳. د ښځو د وړتياوو لوړولو لپاره دې روزنيز پروګرامونه جوړ شي.

۴. د انجمنونو او موسسو د جوړولو لپاره مناسب فرصتونه برابر شي.

۵. ښځې دې وهڅول شي، چې له خپلې اقتصادي وړتيا څخه ګټه واخلي.

٦. د درسي کتابونو تنظيم دې د ښځو اړوندو موضوعاتو، په ځانګړې ډول د ښځو مديريت، کارموندنې او د ښځو د بېلګو يادولو په برخه کې وشي.

۷. حکومت او رسنۍ دې د ښځو او نارينه‌وو د برابرو حقونو موضوع ته ځانګړې پاملرنه وکړي.

۸. ښځې دې د نورو ښځو لخوا ومنل شي او ملاتړ دې يې وشي.

۹. په ټولنه کې دې د بحث فرهنګ ترويج شي. د جرګو دود، چې د تاريخي ستونزو په حل کې اغېزناک ثابت شوی، بايد د ښځو او نارينه‌وو د برابرۍ، مدني قانون، په اسلام کې د ښځو د ځای او کلتوري کليشو په اړه په مسايلو يوه پوهه جرګه رامنځته شي.

۱۰. حکومت دې د ښځو پر وړاندې د ځورونو د مخنيوي لپاره سخت قوانين وضعه کړي، چې ستونزې له منځه لاړې شي.

۱۱. د ښځو ټولنيز فعاليتونه دې د هغو ښځو لخوا رهبري شي، چې د اسلامي ارزښتونو پابندې دي، نه د سيکولرو ښځو لخوا.

## پايله

اسلامي شريعت د ښځو او نارينه‌وو تر منځ د اخلاقي او حقوقي برابرۍ په ټينګار سره خپله ونډه ادا کړې ده؛ خو په اسلامي ټولنو کې بدوي فرهنګونو او قبيلوي ټولنيزو جوړښتونو د دې مخه نيولې ده، چې دين وکولی شي د نارينه‌محوره روحيې او جنسي تبعيض د له منځه وړلو لپاره خپله اخلاقي او حقوقي لاره په سمه توګه تعقيب کړي.

د يوه هېواد د پرمختګ د سنجولو تر ټولو مهم معيار د ښځو اهميت او ارزښت دی، چې په هغه هېواد کې ورته ورکول کېږي. هغه هېوادونه پرمختللي ګڼل کېږي، چې ښځې پکې د حقيقي او اغېزناک ګډون فرصت لري، نه يوازې د تش په نامه يا سمبوليک شتون. له همدې امله، ويلی شو، چې په لوړو مديريتي پوستونو کې د ښځو نشتون زموږ ټولنه له پام وړ مدني پرمختګ څخه بې برخې کړې ده.

د افغانستان تاريخ ته يوه لنډه کتنه ښيي، چې د ښځو د پرمختګ بهير ډېر ورو او ناپايدار پاتې شوی، په داسې حال کې چې شاتګونه تل په چټکۍ سره رامنځته شوي دي.

انفرادي، تاريخي، ټولنيز او ديني عوامل د ښځو د موقف د ثبات او د ښځو په رهبرۍ کې اغېزناک دي. د افغانستان سياسي تاريخ د دې شاهدي ورکوي، چې که څه هم ښځو ته تل په ټولنه کې ځانګړې نظر ندی شوی؛ خو هغوی بيا هم د دغه هېواد د حکومتونو مشروعيت او ثبات اغېزمن کړی دی.

## ماخذونه


۱. احمدي، فاطمه. بررسی مشارکت سياسی - اجتماعی زنان افغانستان. (۱۳۹۹ل) څلورمه ګڼه.

۲. بهشتي او همکاران. جوانان و روشنگری، عوامل و پيامدهای افراطگرايی در افغانستان (۲۰۲۰ز).

۳. حميدي، ناصر يوسفي او سميه. واکاوی تاثيرات نوسازی دولت بر وضعيت سياسی - اجتماعی زنان افغانستان بر متن قوانين اساسی (۱۳۹۵ل).

۴. حنيف، عزيزاحمد. حقوق و جايگاه زن در ميزان فقه اسلامی (۱۳۹۹ل) کابل.

۵. دامغاني، حسين، شاني؛ امينزاده. بررسی سقف شيشه‌ای در سازمان‌ها (۱۳۸۵ل).

٦. آزادي راډيو. فراز و نشيب زنده‌گی زنان افغانستان در صد سال گذشته (۱۴۰۰ل).

۷.عراقي، منيژه نجم. جامعه شناسی زنان (۱۳۸۸ل) تهران، شېرم چاپ، خپرندوی: نی.

۸.فياض، محمد اسحاق. آيا زن رهبر می‌شود؟ بررسی رهبری زن از منظر اسلام و حقوق بشر (۱۳۸۳ل) کابل.

۹.لنگر، نيلوفر. زنان قهرمان و تاريخ‌ساز افغانستان (۲۰۱۴ز).

۱۰. ما وعده‌های جهانی را داريم، Human Right Watch.

۱ . محمود، پادشاه محمود. زنان نامور تاريخ افغانستان. د افغانستان د خلکو د تاريخي جغرافيايي مطالعاتو او څېړنو مرکز.

۱۲. نادري، زهرا. زنان، تاريخ و سياست در افغانستان (۱۳۹۸ل).



# په افغانستان کې د کوچنیو پورونو له لارې د ښځو ځواکمنول

**صابر همدم**

**پېژندنه**

افغانستان له اوږدې مودې راهیسې له ګڼو ننګونو سره مخ دی. کورنیو جګړو اقتصادي زیربناوې ورانې کړې او د افغانانو کلتور او فرهنګ ته یې افراطیت او قدامت‌پسندي تزریق کړه. یوه له ښکاره بېلګو یې په افغاني ټولنه کې د ښځو په وړاندې پراته محدودیتونه دي. دغو محدودیتونو د ښځو اقتصاد هم بې اغېزې ندی پرېښی؛ خو هېڅوک له دې څخه انکار نشي کولی، چې افغان مېرمنې د هېواد د اقتصاد په پرمختیا کې رغنده رول لوبولی شي. د ښځو د ځواک د زیاتولو لپاره، چې په پراخه کچه په اقتصادي فعالیتونو کې ونډه واخلي، په ډېریو هېوادونو کې یې د کوچنیو پورونو له لارې ملاتړ یو تجربه شوی انتخاب دی. کوچنیو پورونو هغه خلا ډکه کړه، چې په دودیزو بانکونو کې د پور اخیستونکو د تقاضا او د پور ورکوونکو د عرضې تر منځ موجوده وه. افغان مېرمنې د مالي سواد د کمښت له امله د دې جوګه نه وې، چې له بانکونو څخه پور واخلي. نظر داسې دی، که چېرته ښځې کوچنیو پورونو ته لاسرسی ولري، په دې سره به ښځې تشبثاتي فعالیتونه پیل کړي. دا چې ښځې د عاید

زياته برخه د کورنۍ په رفاه لګوي؛ نو د فعالیتونو په زیاتوالي سره یې جمعي رفاه تر لاسه کېدی شي، چې په پایله کې به لوی تولنیز تغیرات رامنځته شي. په تېرو څو کلونو کې د کوچنیو پورونو له لارې د ښځو د ځواکمنولو له پروګرام څخه ګڼو بهرنیو او کورنیو ډلو ملاتړ کړی، چې دې سره په محلي کچه ښځو د ژوند د ضرورتونو د پوره کولو ځواک پیدا کړی او یو څه نا څه جنسیتي برابري هم رامنځته شوې.

**کلیدي ټکي:** بې سوده پورونه، بېوزلي، د ښځو ځواکمنتیا، مایکرو فایننس.

## په افغانستان کې کوچنیو پورونو ته څه اړتیا ده؟

واړه پورونه، د سپما حسابونه، د ټیټ عاید لرونکو خلکو او کوچنیو سوداګریو لپاره نور ګڼ خدمتونه، په افغانستان کې د اقتصادي پرمختیا او د فقر د کمولو لپاره د یوې مهمې وسیلې په توګه پېژندل شوي دي. افغانستان داسې یو هېواد دی، چې پکې دودیزو بانکونو ته لاسرسی محدود او د پور ترلاسه کولو شرایط سخت دي. مطالعاتو ثابته کړې ده، چې د کوچنیو پورونو خدماتو ته لاسرسی په افغانستان کې د بېوزلو، په ځانګړې توګه د ښځو ژوند کې بدلون راوستلی شي. کوچني کریډیټونه ښځینه متشبثینو ته اجازه ورکوي، چې کوچني تصدي فعالیتونه پیل کړي، چې د سرک د سر له پلور څخه نیولې بیا تر لاسي صنایعو او کرنې پورې پکې شامل دي. د پور په اخیستونکي او ورکوونکي باندې له مستقیمو آغېزو پرته، د کوچنیو پورونو یو غښتلی سیستم په ملي اقتصاد هم آغېز کوي. لکه کوچنیو او متوسطو شرکتونو ته پور ورکول، د اشتغال، اقتصادي تنوع او عادلانه ودې لامل کېږي. افغانستان غوندې یو هېواد، چې اقتصاد یې په بهرنیو مرستو باندې متکي دی، د کوچنیو پورونو د خدماتو په زیاتوالي سره یې د توسعې او پرمختګ په داخلي عواملو کې خوځښت راتلی شي. طبعاً لکه نور هېوادونه، افغانستان کې هم د کوچنیو پورونو د ورکړې خدماتو توسعه له ګڼو خنډونه سره مخ ده؛ لکه: ضعیفې زېربناوې، د بېسوادۍ لوړه کچه، فرهنګي او کلتوري موانع؛ خو له ډېرو محدودیتونو سره سره بیا هم موږ پرمختګ احساسوو. په دغو آخرو کلونو کې ګڼو کورنیو او بهرنیو غیر دولتي موسسو او بانکونو د کوچنیو پورونو او اعتباراتو ورکړه زیاته کړې ده.

د یوه ملاتړي او باثباته سیاسي چاپېریال په شتون کې د افغانستان مالي اداري دا توان لري، چې د ټولنیز او اقتصادي پرمختګ ماشین په حرکت راولي. بېوزلو او د لرو پرتو سیمو اوسېدنکو لپاره د مالي خدماتو تامین، ټولنیز توازن او مساوات ته لاره هواروي. ډېری افغان مېرمنې دودیزو بانکي خدماتو ته د لاسرسي لپاره اړین اسناد، لکه تضمین لیک یا پروپزل نشي چمتو کولی؛ نو همدا خلا د کوچنیو پورونو د ورکړې ادارو ډکه کړې ده.

## آیا په افغانستان کې د کوچنیو پورونو آغېزې شته؟

په افغانستان کې د کوچنیو پورونو پروګرامونه د ښځو په پیاوړتیا کې بریالي شوي دي. څېړنې ښیي، چې د کوچنیو پورونو په برخه کې ښکېلې مېرمنې ډېر احتمال لري، چې د کورنیو په کچه په تصمیم نیولو کې لوی رول ولوبوي. په افغانستان کې د کوچنیو پورونو یوه اداره «د افغانستان د کوچنیو پورونو د پانګونې د ملاتړ اسانتیا اداره/AMISF» ده. (AMISF) له ۱.۷ میلیونو څخه زیاتو افغان پور اخیستونکو ته، چې ډېری یې مېرمنې دي، له ۱ میلیارد ډالرو څخه ډېر کوچني پورونه چمتو کړي. مېرمنو له دغو پورونو څخه د سوداګرۍ پیل کولو لپاره ګټه اخیستې ده، لکه د دوکانونو جوړول، خوراکي توکو تولید، لاسي صنایع او د څارویو پالنه. پانګې ته لاسرسي دغو ښځو ته اجازه ورکړې ده، چې خپل اقتصادي وضعیت ښه کړي او پخپلو ټولنو کې ونډه واخلي.

کوچنیو پورونو په ډېرو نورو هېوادونو کې له اقتصادي او ټولنیز پلوه د ښځو په ځواکمنتیا کې لوی بدلون رامنځته کړی. د ډېریو هېوادونو مرکزي بانکونو د ټیټ عاید لرونکو هغو کورنیو ته مالي خدمات وړاندې کړي، چې مخکې یې ورته لاسرسی نه درلود. هغه خلک چې ټیټ عاید لري، کولی شي له کوچنیو پورونو څخه د کاروبار د پیل لپاره ګټه واخلي. په دې برخه کې د کوچنیو پورونو د مفکورې پراختیا اوږد تاریخ لري. (ډاکټر اشرف،۲۰۲۲)

پروفېسر محمد یونس د نوبل جایزې ګټونکی او د ګرامین بانک موسس، په بنګله دېش کې د کوچنیو پورونو په ورکړې مشهور شو. په حقیقت کې دا لومړۍ تجربه وه، چې که چېرته ښځو ته پور ورکړل شي، آیا بېرته یې تادیه کولی شي؟ څېړنو دا هم ثابته کړه، چې ښځې د سړیو په پرتله له دوو تر څلور میاشتو وختي پورونه تادیه کوي.

د افغانستان په عمومي وضعیت د کوچنیو پورونو آغېز د آغا خان پرمختیايي شبکې(AKDN) له خپاره شوي راپور څخه داسې اندازه کوو؛

(AKDN) په افغانستان کې له خلکو سره د کوچنیو پورونو او نورو مالي خدماتو وړاندې کولو مرسته کوي. د مثال په توګه یو نانوای وتوانېد، چې له (AKDN) څخه د کوچني پور په اخیستو خپل کاروبار ولري. د اپینو یو پخوانی کروندګر اوس د (AKDN) د پور په مرسته میوه لرونکې ونې روزي او پلوري. له ۲۰۰٦م کال راهیسې (AKDN) نږدې ۷۰۰،۰۰۰ مایکرو پورونه ورکړي دي. دغو پورونو مستقیماً د لرې پرتو سیمو خلکو لپاره د یو څه معیاري ژوند کولو زمینه برابره کړې ده.

(Afghanistan Microfinance Association) یا د افغانستان د کوچنیو پورونو د اتحادیې فعالیتونو د کوچنیو پورونو په برابرولو سره د افغان مېرمنو پر ژوند، په ځانګړې توګه د اقتصاد په برخه کې د پام وړ آغېز کړی دی.

**یوه رښتونې کیسه:** فرشته په عمر ۳۵ کلنه، د کابل اوسېدونکې ده. هغه د خپلې کورنۍ یواځینۍ عاید راوړونکې ده. د فرشتې خاوند په ټیټ مزد کار کاوه، چې د کور د لګښتونو لپاره یې بسنه نکوله؛ فرشتې هم غوښتل د کور د مصارفو په پوره کولو کې مرسته وکړي، غوښتل یې یو کوچنی کاروبار ولري؛ خو د پانګې د پیدا کولو فکر ورې وه. په ۲۰۱۸م کال کې فرشتې د کوچنیو پورونو د ورکړې د پروګرام یو اعلان واورېد، سمدستي یې د پور اخیستلو غوښتنه وکړه. هغې د ۳۰۰ ډالرو پور ترلاسه کړ، چې له خپل کور څخه د خیاطي کاروبار پیل کړي. د قرض په اخیستلو سره هغې د خیاطۍ ټول اړین وسایل وپېرل، هغې د فرمایش اخیستلو پیل لومړی له ګاونډیانو وکړ، د وخت په تېرېدو د فرشتې کاروبار وده وکړه او وتوانېده، چې لومړنی پور بېرته ورکړي او د زیات مقدار د پور غوښتلو ځواک یې هم ترلاسه کړ. نن فرشته خیاطي لري او د منظم عاید درلودنکې ده. اوس د هغې ماشومان خصوصي ښوونځي ته ځي، ټوله کورنۍ غوره روغتیايي خدماتو او خوراک ته لاسرسی لري.

دا د ډېرو مثالونو له ډلې څخه یو مثال دی، چې څنګه د کوچنیو پورونو تهیه او ورکړه د خلکو ژوند ښه کولی شي.

## ولې باید کوچني پورونه ښځو ته ورکړل شي؟

په ډېرو پرمختیايي هېوادونو کې ډېری مېرمنې له دودیزو بانکونو څخه د پور اخیستلو ځواک نلري؛ ځکه چې دوی د بانکونو غوښتنې نشي پوره کولی. ځینې بانکونه هغه چا ته پور ورکوي، چې مخکې یې په همغه بانک کې حساب پرانیستی وي، یا داسې تضمین غواړي، چې پوره کول یې د ښځو له عهدې لوړ وي. بېسوادي او کلتوري ستونزې نور محدودیتونه دي، چې ښځې نشي کولای له بانکونو قرض واخلي؛ نو دا یوه جدي اړتیا ده، چې کوچني پورونه باید ښځو ته ورکړل شي. یو څو نور دلیلونه هم شته، چې لاندې یې یادونه کوو؛

**۱. جنسیت او پراختیا:** دا د نړیوال بانک، UNIFEN، UNDP په څېړنو سره ثابته شوې خبره ده، چې بې عدالتي په پرمختیايي هېوادونو کې د پرمختیا مخه ډب کړې ده. اجماع په دې ده، چې د هرې ستراتیژۍ له عملي کولو څخه مخکې، که په ټولنو کې مساوات موجود نه وي، پرمختګ ناشونی دی. ډېری ملاتړې اداري کوچني پورونه د یوې پرمختیايي ستراتیژۍ په توګه کاروي؛ ځکه چې مایکرو فایننس د بېوزلي له کمولو او د ښځو د پیاوړې کولو سره مستقیمه اړیکه لري.(cheston and kahun(2002:7)

**۲. ښځې په غریبانو کې غریبې دي:** موږ په پښتو کې متل لرو، چې د ښځو حال د غریبانو په څېر دی. په عموم کې د نړۍ زیات نفوس ښځې تشکیلوي. د ۱۹۹۵م کال د بشري پراختیا له راپور سره سم ملګرو ملتونو ویلي دي، چې له ۱.۳ میلیونو خلکو څخه، چې د ورځې له ۱ ډالر څخه کم عاید لري، ۷۰٪ یې ښځې دي. د دې ترڅنګ ښځې د هغه نفوس لویه اندازه ده، چې په ټیټ مزد کار کوي او اکثره فعالیت یې په غیررسمي اقتصاد پورې تړاو لري؛ نو په همدې دلیل دا مهمه ده، چې ښځو ته اولویت ورکړل شي؛ ځکه چې په ټولنه کې تر ټولو زیانمنه طبقه ده. ښځې تل بېوزله ندي، بلکې د دوی د حقوقو د نه رعایت له امله فقر ځپلې دي. که چېرته له ښځو سره د کوچنیو پورونو له لارې مالي مرسته وشي، چې په عاید لرونکو فعالیتونو کې ونډه واخلي، دوی به د فقر له آغېزو خوندي پاتې شي.(cheston and kahun(2002:8)

**۳. ښځې د عاید ډېره برخه پخپله کورنۍ لګوي:** باور داسې دی، چې ښځې د سړیو په پرتله د عاید زیاته برخه د کورنۍ په رفاه لګوي؛ نو اوس که چېرته ښځې له مالي اړخه

ځواکمنې شي او د اوږدې مودې لپاره لوړ عايد ولري، د کورنيو رفاه ورسره وده کوي. مختلفو څېړنو ښودلې، چې که چېرته ښځې لوړ عايد ولري؛ نو په ټولنه څو اړخيزې اغېزې لري، لکه د (WEDTF) د معلوماتو له مخې، د ښځو د عايد د لوړېدو اغېز د هغوی د ماشومانو په زده‌کړه، خوراکي رژيم، لباس او روغتيا کې راڅرګندېږي.

**۴. اغېز او پايښت:** هغه خلک، چې ښځو ته د پور ورکولو ملاتړي دي، استدلال کوي چې ښځې د نارينه‌وو په پرتله د پور بېرته ورکړې ښه سابقه لري؛ نو د مالي ادارو پايښت لپاره هم دا غوره ده، چې هغه چا ته پور ورکړي، چې په ټاکلي وخت د تاديې توان ولري.(cheston and kahun(2002:9)

**۵. د ښځو د حقوقو پياوړتيا لپاره:** ښځه د يوه انسان په توګه دا حق لري، چې له مالي ادارو څخه په آسانه شرايطو پور واخلي. همدې موخې ته د رسېدو لپاره(CEDAW، BPFA) او ګڼې نورې اداري کار کوي. په اصل کې دا د دولت کار دی، چې بايد ښځو ته د پور اخيستلو ځانګړي شرايط رامنځته کړي؛ لکه په افغانستان کې چې د ځمکې د قبالو اسناد د نارينه‌وو په نومونو دي؛ نو ښځې نشي کولی د تضمين په پار بانک ته دغه اسناد وړاندې کړي.

**٦. د ښځو ځواکمنتيا:** په پايله کې داسې ويل کېږي، که چېرته ښځې کوچنيو پورونو ته لاسرسی ولري، دا پخپله له ښځو سره يو ډول مرسته ده؛ حتیٰ که مالي موسسې د نارينه‌وو په برابر ښځو ته يو شان خدامات وړاندې کړي، دا هم ښځې پياوړې کولی شي.

## د کوچنيو پورونو له لارې د جنسيت د مساواتو د پراختيا لپاره ستراتيژي

داسې ستراتيژي، چې په واسطه يې د ښځو ژوند مستقيماً تر اغېز لاندې راځي، هغه د کوچنيو پورونو د تهيې ستراتيژي ده، چې جنسيتي مساواتو ته لار پرانيزي او مستقيماً د ښځو د پياوړتيا لامل کېږي. دلته د جنسيتي مساواتو د ودې لپاره د يوې برياليې ستراتيژۍ بېلګه وړاندې کوو؛

**The Self-Employed Women's Association Bank in India يوه رښتوني کيسه:** (SEWA) يو کوپراتيف بانک دی، چې په ۱۹۷۴م کال کې د ځان ګومارونکو مېرمنو لخوا تاسيس شوی، دا په هند کې د بېوزلو ځان ګومارل شويو ښځو اتحاديه ده. دا بانک د کوچنيو پورونو د کارولو له لارې د ښځو پياوړتيا او د جنسيتي مساواتو ترلاسه کولو لپاره يو بشپړ ماډل دی. مالي خدماتو ته د ښځو د لاسرسي په برخه کې په هند کې دغه بانک ۴۰۰،۰۰۰ ښځو ته غړيتوب ورکړی. دا بانک ښځو ته د سپما د حسابونو پرانيستلو تر څنګ د پورونو د ورکړې او د بيمې خدمات هم وړاندې کوي. دا بانک د هند په ټولو لرو پرتو سيمو کې ځانګې لري، چې له ښار څخه لرې مېرمنو ته د پور ورکولو چوپړتياوې وړاندې کړي. د ښځو د مالي پياوړتيا په برخه کې د بانک تمرکز ښځو ته د پور په ورکړه دی؛ حتیٰ که د دوی خاوندان د کورنۍ اصلي عايد راوړونکي هم وي. بانک د مالي سواد اړوند هم ښځو ته روزنه ورکوي، چې خپلې پيسې سپما، يا يې په کوم کاروبار کې واچوي. د ښځو د عمده مسووليتونو، لکه د ماشوم ساتنې برخه کې هم بانک له مېرمنو سره مرستې کوي، چې د دوی تمرکز په اقتصادي فعاليتونو وساتل شي. د ښځو د رهبرۍ په برخه کې د بانک ټول پرسونل ښځې دي او وخت نا وخت د ظرفيت جوړونې روزنې ورکوي. دا په واقعيت کې د کوچنيو پورونو له لارې د ښځو روزل دي، چې په راتلونکي کې د لوړو مالي پرېکړو نيولو ځواک پيدا کړي.

## په افغانستان کې څوک کوچني پورونه ورکوي؟

**۱. د افغانستان لپاره د کوچنيو پورونو د پانګونې د ملاتړ آسانتيا(Microfinance investment support facility for Afghanistan)**

MISFA په ۲۰۰۳م کال کې د نړۍوال بانک او ګڼو نورو نړۍوالو ډونرانو په ملاتړ رامنځته شو، چې په افغانستان کې د کوچنيو پورونو د ورکړې سکټور پياوړی کړي. په رامنځته کېدو سره يې تر ۲۰ زيات د پور ورکولو بنسټونه رامنځته کړي او تر ۲۰۲۳م کال پورې له ۲ ميليونو فعاله پور اخيستونکو سره ۱.۳ ميليون سپما کوونکو ته رسېدلي. په افغانستان کې له سياسي بې ثباتۍ سره سره MISFA په هېواد کې د کوچنيو پورونو د سکټور د ودې او پايښت لپاره ملاتړ ته دوام ورکړی. دا په حقيقت کې د دې لپاره مبارزه ده، چې د افغانستان په څېر جګړه ځپلي هېواد کې د کوچنيو پورونو قوي ايکوسېسټم رامنځته کړي.

## د پور ترلاسه کولو پروسيجر

**لومړۍ مرحله:** د مستحقوالي ارزونه ده؛ يعنې مالي اداره

ځینې معیارونه لري، چې باید پور اخیستونکی یې ولري؛ لکه عمر، د استوګنې ځای، د عاید کچه او د سوداګریز فعالیت نوعیت.

**دوهمه مرحله:** په دې مرحله کې د پور اخیستلو لپاره مالي ادارې ته غوښتنلیک وړل کېږي. د غوښتنلیک په فورمه کې شخصي معلومات، د کاروبار معلومات او ځینې د ملاتړ اسناد، لکه د کاروبار جواز یا د عاید ثبوت غوښتل کېږي.

**درېیمه مرحله:** په دې مرحله کې د غوښتل شوي پور ارزونه کېږي. د غوښتنلیک ورکونکي کس د وړتوب په هکله هم ارزونې ترسره کېږي.

**څلورمه مرحله:** کمېټه رامنځته کېږي، ټول غوښتنلیکونه راټولېږي او پرېکړه کوي، چې آیا پور تصویب کړي که نه؟ دې کې شاید د پور د ورکړې خطر او د شته بودیجې په اړه هم خبرې وشي.

**پینځمه مرحله:** که پور تصویب شي، اداره پور غوښتونکو ته د نغدو پیسو یا د بانک له لارې پورونه وېشي.

**شپږمه مرحله:** په دې مرحله کې پور غوښتونکی باید په منظمو قسطونو کې پور بېرته تادیه کړي.

## ۲. د کوچنیو پورونو د ورکړې دولتي اداري

۱. د افغانستان د کلیو مالي شرکت (Afghanistan Rural Finance Company) په افغانستان کې په ۲۰۰۳م کال کې تاسیس شو. زیات تمرکز یې په لرو پرتو سیمو کې بزګرانو او متشبثینو ته د پور په چمتو کولو دی. په ټولو ولایتونو کې څانګې لري، د افغان دولت ملکیت دی او د کرنې او اوبو لګونې او مالداری وزارت له لوري اداره کېږي.

۲. د افغانستان د کوچنیو پورونو بانک(Afghanistan Microfinance Bank) په افغانستان کې د کوچنیو پورونو د ورکړې یوه بله مالي اداره ده، چې په ۲۰۱۰م کال کې دولت تاسیس کړه، چې مالي خدماتو ته لاسرسی پراخه کړي. زیات تمرکز یې په بېکارو خلکو دی، چې د پور له لارې یو کوچنی کاروبار پیل کړي. د افغانستان مرکزي بانک ملکیت دی او د دوی له لوري چلول کېږي.

ګڼ نور خصوصي مالي بنسټونه شته دي، چې کوچني پورونه ورکوي. که تاسې په انټرنېټ کې پلټنه وکړئ، په ښو او مناسبو شرایطو سره پور ترلاسه کولی شئ.

د څو مېرمنو بېلګې، چې د کوچنیو پورونو په اخیستلو یې کاروبارونه پیل کړي دي؛

۱. د تېرو کلونو په بهیر کې د افغانستان په ځینو سیمو کې د کوچنیو پورونو پروګرام ښځو ته د کوچنیو کاروبارونو د پیل کولو لپاره فرصتونونه برابر کړي دي. دا پورونه هغو ښځو ته ورکړل شوي دي، چې د یوه کاروبار فکر یې لاره؛ خو د کافي سرمایې پیدا کولو په لټه کې وې.

د دوی له ډلې څخه یې یوه فاطمه ده، چې په کابل ښار کې اوسېږي. هغې له یوې کوچنۍ مالي موسسې څخه د ۳۰۰ ډالرو پور تر اخیستلو وروسته د مېوې او سبزیو په پلورلو پیل وکړ. له هڅو او زیار وروسته هغې خپل پور پخپل وخت بېرته ورکړ او خپله سرمایه یې ځان لپاره جوړه کړه.

اوس فاطمه د یوه کوچني دوکان خاونده ده، چې بېلابېل محصولات پکې خرڅوي؛ هغه وایي: «دا کوچنی پور زما لپاره یو ښه فرصت و، زه وتوانېدم، چې خپل کاروبار پکې پیل کړم. اوس زه پخپلو پښو درېدلې یم، اوس کولی شم د کورنۍ لګښتونه پخپله پوره کړم. اوس د دې لپاره هڅه کووم، چې خپلې کورنۍ ته له مالي اړخه یو خوندي راتلونکی برابر کړم.

د فاطمې کیسه د هغو زرګونو افغان مېرمنو کیسه ده، چې د کوچنیو پورونو د پروګرام له مرستې په ګټه اخیستنې یې کاروبارونه پیل کړي.

۲. شکریه یوه ځوانه ښځه ده، چې په هرات ښار کې اوسېږي، له یوې سیمه‌ییزې موسسې څخه د ۲۰۰ ډالرو پور تر اخیستلو وروسته د لاسي صنایعو په اوبدلو پیل کوي. هغه وایي: «په پیل کې راته کار ډېر سخت و؛ خو د نویو مهارتونو زده‌کړې اړوند زما شوق او مینې دا ډالۍ راکړه، چې خپل کاروبار ولرم او پراختیا ورکړم.»

اوس شکریه پخپله د غالیو اوبدلو کارخونه لري. له شکریې سره د کلي لسګونه نورې ځوانې مېرمنې هم په کار بوختې دي. هغې نه یواځې خپل پور بېرته ورکړ، بلکې د راتلونکي لپاره یې په کافي اندازه سپما هم وکړه.

هغه زیاتوي: «دغه کوچني پور، چې ما ورباندې کاروبار جوړ کړ، زما په ژوند کې ډېر بدلون راوست. زه یواځې په اقتصادي لحاظ خپلواکه نشوم، بلکې ما د کلي له نورو ښځو سره هم مرسته کړې، چې له فقره راووځي. زه دا هیله لرم، چې د پور ورکولو دا مرسته ټولو هغو مېرمنو ته ورسېږي، چې غواړي پخپلو پښو ودرېږي.

د شکرېې کیسه دا ښیي، چې څنګه د کوچنیو پورونو فرصتونه کولی شي، د افغان مېرمنو ژوند بدل کړي او ورته د خپلواکه کاروبار جوړولو فرصت برابر شي. هغه مېرمنې چې غواړي کاروبار ولري، له شکرېې دې الهام واخلي.

۳. مریم یوه ۳۸ کلنه ښځه ده، چې پخپله محله کې اوس د ۴۵۰ ډالرو پور په اخیستلو سره د خوراکي توکو پرچون پلورنځی لري.


مریم وایي: «د سیمې خلک راسره بلد شوي؛ هغوی د هغو توکو د پېر لپاره لویو پلورنځیو ته نه ځي، چې له ما سره دي.


هغه زیاتوي: «دربیو نورو مېرمنو ته مې هم پخپل دوکان کې د کار زمینه برابره کړې ده. دغه پلورنځي زما له کورنۍ سره ډېره مرسته کړې؛ موږ د دوکان له عوایدو څخه خپل ورځني لګښتونه پوره کوو او د راتلونکي لپاره سپما کوو.»

هغه ورپسې زیاتوي: «زما لپاره ډېره ارزښتمنه دا ده، چې زه شخصي کاروبار لرم؛ دا راته د اقتصادي خپلواکۍ حس راکوي.»

## د یوې سروې پایلې

دا سروې په ۲۰۲۲م کال کې د افغانستان په اتو ولایتونو کې ترسره شوې، چې د ښځینه متشبثینو د فعالیتونو پر وړاندې شته خنډونه او فرصتونه وښیي. په سروې کې ۵۰۰ ښځې پوښتل شوې دي، چې ټولې یې د کوچنیو او متوسطو کاربارونو څښتنې وې.




## د سروې کلیدي موندنې

### ۱. مالي منابعو ته لاسرسی

- ۷۲٪ ښځینه متشبثینو د خپلې سوداګرۍ د پیل او ودې لپاره مالي او کرېډیټي ستونزې لرلې دي. په دې کې د بانکي تضمین نشتوالی، د پور د غوښتنلیک پېچلې مرحلې او ښځو ته د پور ورکولو پر وړاندې کلتوري تعصبونه شامل دي.
- یواځې ٪۲۳ ښځو په بریالیتوب سره له رسمي مالي موسسو پور ترلاسه کړی.

### ۲. مهارت او روزنه

- ٪۶۸ مېرمنو د کاروبار د مدیریت د مهارتونو او روزنې نشتوالی یوه لویه ننګونه بللې ده.
- ډېرو ښځینه متشبثینې محدودې رسمي زده‌کړې لري؛ د محاسبې، بازار موندنې او ټېکنالوژۍ کارولو په برخه کې مرستې ته اړتیا لري.
- ٪۴۱ ځواب ویونکو وویل، چې دوی د سوداګرۍ په اړه روزنه یا ورکشاپ ندی ترلاسه کړی.

### ۳. ټولنیز او کلتوري نورمونه

- ٪۷۵ مېرمنو ویلي دي، چې له ټولنیزو او کلتوري خنډونو سره مخ دي؛ لکه د کاروبار په پیل سره د کورنۍ نارضایت، د سفر محدودیتونه او جنسیتي تعصب یادولی شو.
- د جېنډر د رول په اساس، ښځې له دې ستونزې سره مخ دي، چې د سوداګرۍ او کورنۍ د مسوولیتونو تر منځ انډول رامنځته کړي.

• ٥٢٪ مېرمنو ویلي دي، چې دوی د ټولنیزو نورمونو له امله د شبکې جوړولو او سوداګریزو اړیکو رامنځته کولو کې ستونزې لري.

**۴. بازار ته لاسرسی**

• ٥٣٪ ښځو کورنیو او نړۍوالو بازارونو ته د لاسرسي نشتون یو جدي خنډ وباله.

• په ځینو سکټورونو کې د ښځو په مشرۍ سوداګرۍ، لکه د لاسي صنایعو او د خوراکي توکو پروسس کولو کې له محدودې ودې او ظرفیت سره مخامخ وې.

• ۴۷٪ مېرمنې د عرضه کوونکو، توزیع کوونکو او پېرودونکو په پېژندلو کې له ننګونو سره مخ دي.

**۵. پالیسي او زېربنا**

• ٦٢٪ ښځو ویلي دي، چې دوی د سوداګرۍ د پراختیا خدماتو او د لارښوونې پروګرامونو ته لاسرسی نلري.

• کمزورې زېربنا، لکه د باور وړ برېښنا او انټرنېټ ته لاسرسی د ٥٨٪ ځواب ویونکو لپاره ننګونې وې.

• ۴۳٪ احساس کوي، چې د حکومت پالیسۍ او مقررات په کافي اندازه د ښځینه متشبثینو ملاتړ نکوي.

په ټوله کې دا سروې هغه څو اړخیز خنډونه په ګوته کوي، چې افغان مېرمنې د سوداګرۍ پیل کولو او پراخولو کې ورسره مخ دي. هدفمنده مداخلو ته اړتیا ده، چې د تمویل، مهارتونو، روزنې، د بازار اړیکو او د ښځینه متشبثینو د ودې لپاره داسې پالیسۍ ترتیب شي، چې ښځې پیاوړې کړي.

## پایله

کوچنې پورونه د افغان مېرمنو د اقتصادي پیاوړتیا لپاره داسې وسیله ده، چې په اکثرو پرمختیایي هېوادونو کې عملي شوې او غوره پایلې یې لرلې دي. د کوچنیو پورونو پروګرامونه ښځو ته د تمویلي سرچینو په چمتو کولو سره، هغوی ته د کوچنې کاروبار د رامنځته کولو فرصت برابروي، چې د خپل کاروبار له لارې ځان او کورنۍ ته غوره معیشت برابر کړي او د افغانستان اقتصاد ته تنوع وبښي. د کوچنیو پورونو له لارې د ښځو تمویل ښځو ته خپلواکي ورکوي او هغوی ته اجازه ورکوي، چې د خپل ژوند اړوند پخپله پرېکړې وکړي. دا پخپل وار سره د ښځو د روغتیا، زده‌کړو او د ژوند د کیفیت د ښه والي لامل کېږي.

له فردي کچې ورهاخوا د کوچنیو پورنو له لارې تمویل د افغانستان د اقتصادي پرمختیا په لاسته راوړلو کې هم مهم رول لوبوي. د دغو کاروبارونو په ودې سره محصولاتي تنوع رامنځته کېږي، چې پخپله د اقتصاد د پراختیا معنیٰ لري. په پایله کې، په افغانستان کې د کوچنیو پورونو بریالیتوب به د هېواد د ښځو د استقامت او متشبثې روحیې په روزلو کې د یوه مثال په توګه ثابت شي. په داسې حال کې، چې هېواد د جګړو، سیاسي بې ثباتۍ او د اقتصادي ناورین له ننګونو سره مخ دی، دا پروګرامونه د هیلو یو ځراغ او د پراختیا لپاره یوه لاره وړاندې کوي. که چېرته د افغان ښځو په ځواک پانګونه وشي، دوی ته د کاروبارونو د پیل زمینه برابره شي، دوی د یوه باثباته افغانستان په جوړولو کې مرسته کولی شي.

## مأخذونه


• Pokhriyal,A.k., Rani,R., & Uniyal, J.(n.d.). Role of micro-finance in the empowerment of the women. School of Commerce, Hemwati Nandan Bahuguna Garhwal University, Srinagar Garhwal Uttarakhand, India.

• Swapna,K.(2017).Role of microfinance in women empowerment ( Doctoral dissertation, Kalinga University, Raipur,C.G). Enrollment No.15021132(KU002MMX-IVO2O10533).

• Rehman, H., Moazzam, A., & Ansari,N.(2015). Role of Microfinance institutions in women empowerment: A case study of Akhuwat, Pakistan. South Asian Studies,30(1), 107-125.

• Konadu, A., & Biney-Assan, A. B. (2007). The role of microfinance in the empowerment of women: An example of Sinapi Aba Trust, Offinso, Branch-Ghana (Master's thesis Agder University College, Faculty of Economics and Social Sciences, in collaboration with United Nation University).

• International Labour Office.(n.d.). Small change, big change: Women and microfinance. Geneva: International Labour office.



# مېرمن مجله

افغانو مېرمنو ته ځانګړې شوې مجله

لومړی کال؛ درېیمه ګڼه

منی؛ ۱۴۰۳ل

د مېرمن میډیا له لوري په ویاړ سره وړاندې کېږي.

@Merman_Media

www.merman.media